

# عقل کُل


لیکوال: ډاکتر ساجد امجد

ژباړن: نظرمحمد افغان



په ملګرو کې مې تر ټولو ضدي، خو د ايمان ټوټه نظر محمد ۲۴ کاله وړاندې د پېښـور هريپور کې نړۍ وليده .لومړنۍ زده کړې يې هملته وکړې خـو په نوي حکومت کې يې هېواد ته لـه راکډه کېدو وروسـته، روښـان ليسه کې د علم په پياله سترګې سرې کړې. له ما سره په ۱۳۸٦ کال ننګرهار پوهنتون کې ټولګيوال او د ده په خبره دښمن شو. پـر ده دې د خدای د رحمت سېورى وي، دى په عمر کمـکی او له وجوده خـوار ضرور و، مګر پوهنتون يې وړتيا، پـوهې او همـت تـه حيران و .علمي او فرهنګي هڅې خو يې دومره ډېرې دي چې اوس يې کـابو ټـول لغمان پېژني!

زما د سترګو نظر اوس د لغمان اطلاعاتو او فرهنګ رياسـت کـې د فرهنګـي ميراثونو د ساتنې عمومي مدير دى، په ۱۳۹۰ کـال يـې لـه پوهنتـون وروسـته پـه همدې اداره کې د تصحيح مديريت په غـاړه و .تـر ټولو غټـه کارنامه يـې دا چې لغمان ادبي بهير همده زموږ له محبت سره يو ځاى راژونـدى کـړ، د پوهنتـون پـه دوره کې يې کاوون غږ راډيو سره ادبي خپروني چلولې. (لپه ستوري) خپروني يې ډېر ذوقونه صيقل کړل. لغمان راډيو ټلويزيون سره يې همکاري هم د يادولو ده او ليکوالي يې خو يې دومره کړې ده چې مجلې او ويبپاڼې پرې د چا خبره ډکې دي . د پوهنتون مونوګراف يې ((د لنډې کيسې تاريخچه او بنستيز تـوکي)) و، اوس د خوښۍ ځاى دى چې دا اثر يې په کتابي بڼه چاپ ته هم چمتو کړى دى .لـه اردو ژبې نه يې يوه ژباړه ستاسې په ګوتو کې ده او د ذوالقرنين د پراسراره ژوند کيسه به يې هم ډېر ژر ولولئ....

سعيد شينواری

د کليد راډيو مرکزي دفتر- کابل

# عقل کُل

لیکوال: ډاکتر ساجد امجد
ژباړن: نظرمحمد افغان

کال: ۱۳۹۳ لمریز

## د کتاب ځانګړنې:


د کتاب نوم: عقل کُل

لیکوال: ډاکتر ساجد امجد

ژباړن: نظر افغان

برېښلیک: nazar.afghan50@gmail.com

کمپوز او د پښتۍ ډیزاین: ژباړن

خپرندوی: دانش خپرندویه ټولنه

چاپشمېر:

چاپ وار: لومړی

چاپنېټه: ۱۳۹۳ لمریز

بسم الله الرحمن الرحيم

# ډالۍ!

- خپل پلار جان ته مې، چې په اردو ژبه کې زما لومړی استاد دی.
- خپلې مهربانې مور ته چې، که نن هر څه یم، د همدې د دعاګانو له برکته یم.

## يو څو خبرې

يو وخت مې فلسفي کتابونه لوستل، ډېر يې سترې کونکي وو، وچې خبرې پکې ليکلې وې، ځکه مې نه په ياد کېږي چې د فلسفې کوم کتاب مې تر پايه لوستی وي. خو څو کاله مخکې مې يو کتاب وموند، پنډ کتاب و. د نړۍ د مشهورو فيلسوفانو ژوند او د دوی فلسفه په کې ليکلې وه. نه يې سترې کړم او نه مې په نيمايي کې پرېښود. پنځه، پنځه نيم سوه مخه کتاب مې په خوند ولوست.

دليل يې واضح و. د هر فيلسوف ژوند او فلسفي فکر د داستان په بڼه ليکل شوي وو. همدا علت و چې تر اوسه مې هم د ډېرو فيلسوفانو ژوند او فکر په ذهن کې پاتې دی. وروسته مې د کتاب برخې د هوسۍ مجلې ته ژباړلې، لوستونکو هم خوند ترې اخيست. ورو ورو مې ټول کتاب وژباړه او چاپ شو. نوم يې (په فلسفه کې تلپاتې پيښې) و.

دا ټکي مې د ګران نظرمحمد افغان تر ژباړې پورې ياد کړل. د سقراط پر ژوند او فکر دا ژباړل شوی داستان مې په خوند ولوست. ولې؟

۱: وچې او بې روحه خبرې نه وې، بلکې د سقراط ژوند او فلسفه په داستان کې بیان شوې ده او ښاغلي افغان د ژباړې له پاره یو ښه او گټور کتاب ټاکلی دی.

۲: ښه ژباړونکی هغه دی چې روانه ژباړه وکړي او لوستونکی د کتاب د لوستلو په وخت کې داسې احساس وکړي، لکه کتاب چې ژباړه نه، بلکې اصلي لیکنه وي. ښاغلي افغان دې ټکي ته پام کړی او په ډېر مهارت یې دا کتاب ژباړلی دی.

۳: له بده مرغه ځینې ژباړونکي ټکي په ټکي ژباړه کوي. که په اصلي لیکنه کې جملې اوږدې وي، نو دوی هم په ژباړه کې اصلي لیکنې ته په کتلو سره اوږدې جملې راوړي. که په اصلي لیکنه کې نښې ( د بېلگې په توگه کامه ) راغلې وې، نو دوی هم هڅه کوي چې په خپله ژبه کې هم په هماغه ځای کې سکته ( کامه ) راولي، کوم چې په اصلي کتاب کې ده. دا ډول ژباړه بیخونده او سترې کونکي وي، ځکه هره ژبه خپل گرامر او د لیکلو طرز لري او که په ژباړه کې پردی طرز او پردی گرامر د خپلې ژبې په چوکاټ کې راوړو، نو ژباړلې لیکنه طبیعي نه راځي، خو ښاغلي افغان دې ټکي ته پام کړی، لیکوال ټکي په ټکي ژباړه نه ده کړې، لومړی یې هر پاراگراف لوستی، مفهوم یې ترې اخیستی او خپلې جملې یې ورته جوړې کړې دي. لیکوال دې ټکي ته

پام کړی چې په کومه برخه کې اوږدې جملې ښې راځي او په کوم ځای کې د جملو ماتولو ته ضرورت دی.

٤ : د ښې لیکنې او ژباړې یو بل اصل دا دی چې ژباړه باید د یوې ژبې ټولو لوستونکو ته د پوهاوي وړ وي. په بله مانا! که د ننګرهار یو اوسیدونکی څه لیکي او یا یې ژباړي، د هغه په لیکنه باید د کندهار یو اوسیدونکی هم وپوهیږي، ځکه لیکنه په یوې سیمې پورې محدوده نه وي او د یوې ژبې ټول ویونکي باید ورباندې پوه شي. په دې کتاب کې دې ټکي ته پام شوی او د لوستلو پر وخت مې داسې کوم ټکی ونه موند چې کوم پښتون ته د پوهاوي وړ نه وي او له ځان سره ووایي چې دا نو څه مانا ورکوي!؟

ما دا کتاب ولوست او ښه په دقت مې ولوست.

په دې ژباړه کې مې یوه وړه ستونزه ولیده او له لیکوال سره مې شریکه کړه.

په ژباړه کې ځای ځای د څو کرکټرونو پرله پسې ډیالوګونه راغلي دي، مثلا، یو ځای د سقراط او د هغه د یوه ملګري خبرې را اخلم:

- ښه لوښی هغه وي، چې کوم کار لپاره جوړ شوي وي، هغه په صحیح ډول ترسره کړي. همدا صراحي درواخله. که دا لاندنۍ برخه ترې لرې کړم، لاندې به

راګوزار او ټول شراب به ترې توی شي. بیا دې ته ښه صراحي نه شو ویلی.

- د دې خبرې معنا دا ده، چې که څیز ښه وي؛ نو ګټور او ښکلی دی.

- زه همداسې فکر کوم، ګرانه سقراطه!

- اوس یوه بله پوښتنه پیدا کیږي. ولې ټول کلالان ښې صراحیانې نه جوړوي؟

- ښایي دې لپاره چې دوی ته به د ښې صراحۍ جوړولو چل یاد نه وي.

- که دوی دا چل یاد کړي؛ نو آیا هغوی به هم ښایسته صراحۍ جوړې کړي؟ خو دا پوښتنه بیا هم پاتې کیږي، چې دا قاعده یا چل جوړ چا کړ؟

- لوښي جوړوونکي له ډېر پخوا نه دا کارونه کوي.

- د صراحي نقشه ستاسو ذهن ته له کومه راځي؟

- زه په دې نه پوهېږم، چې څنګه او له کومه راځي. تا ته زما مشوره دا ده، چې دا کار یاد کړه. بیا به ته په خپله پوی شې.

که څه هم چې په دې خبرو کې یو ځای د سقراط نوم راغلی دی، خو دا رنګه پرله پسې ډیالوګونه د لوستونکي په ذهن کې نه پاتې کېږي چې کومه خبره چا وکړه.

د ډېرو پرله پسې ډیالوګونو په مینځ کې کله کله د ډیالوګ د ویونکي د نوم اخیستل ضروري دی.

په هر صورت. ښاغلي افغان ښکلې ژباړه کړې او ده ته د لا بریاوو غوښتونکی یم.

په مینه

نصیراحمد احمدي

## زما خبرې

د اووم او اتم ټولګي د تاریخ په کتابونو کې مې د اپلاتون، سقراط او ارسطو نومونه لوستل، خو دومره پام مې نه ورته کاوه. وروسته چې لېږ رالوی شوم او مطالعه مې په پرتلیز ډول ډېره شوه، په هماغه تناسب مې له دې موضوعاتو سره لېوالتیا هم په ډېرېدو شوه.

نړۍ د خپل کمال او ترقۍ پر پوړیو د خپل عروج پر لور ګامونه اخلي. ولې اوس هم ډېر وګړي د ژوند له معنا نه دي خبر. سربېره پر دې چې د ورځني ژوندانه نه اټکل کېدونکي امکانات برابر شوي دی، بیا هم د بشریت ډېر منلي ارزښتونه تر پښو لاندې دي. نن هم رښتیا، اخلاق او قانون ته درناوی ډېر سطحي مسایل ګڼل کیږي. زموږ د ټولنې د وګړو په ځېر د ډېرو معاشرو له افرادو سره د یوه مثبت بدلون فکر نشته. ولې له نن څخه دوه نیم زره کاله وړاندې یوه داسې ټولنه هم وه، چې زموږ د ننۍ نړۍ بنسټ ایښودونکي ګڼل کیږي. هغوی لا هاغه مهال د شپې تر ناوخته کښېناستل. د نړۍ په اړه یې بحثونه کول او عقل او حکمت ته د رسېدو لارې یې لټولې.

له څېرې بدرنګه خو له مغزو ځیرک سقراط، په همداسې ټولنې کې رالوی شو خو د خپلې ټولنې له خلکو هم دوه ګوتې سېوا

وخوت. په هرې خبرې پسې يې سر خوړاوه. هرې مسلې ته يې ځيرنه کوله. خلکو په پټو سترګو خدايان منلي وو، مګر ده د خپلې کنجکاوۍ د حس پر مټ حقيقتونه رابرسېره کړل. نورو سقراط ته بدرنګ وايه. ځينې شيان يې له ښکلا ډک بلل. ده د ښايست او بدرنګۍ په اصلي معنا او روح پسې متې ونغاړلې. په ځوانۍ کې يې د خپلې معنوي وړتيا تر څنګ خپل فزيکي استعداد هم وازمويه. نورو به په ژمي کې ګڼ لباسونه اغوستي وو او په کوټو کې به ايسار وو، خو برعکس ده به لوڅې پښې او خلاص ټټر په بې پروايۍ په واورو کې ګامونه اخيستل. د سقراط همدې بېل کرکټر اړ کړم، چې د ده په اړه د ډاکټر امجد دا خبرې راوژباړم.

لــه ډېــر پخــوا راهيســې اردو ډايجســټونه لــولم. پــه (سرګزشت)ډايجسټ کې د تاريخي څېرو او پېښو په اړه د ښاغلي ډاکتر ساجد امجد اوږدې کيسې خو خامخا لولم. ډېرې کيسې مې ولوستې خو دې اوږده حکايت ډېر خوند راکړ. خوند يې په دې کې و چـې يـو خـو يـې د يونـان د هغـه وخـت د ثقافـت او فرهنـګ ښـه انځـورګري کـړې وه او لـه بلـې خـوا يـې د سـقراط کـابو ټـول ژونـد، لـه ماشومتوبه تر مړينې، رانغاړلی و. په دې نيت مې پر ژباړې بسم الله

وکړه، چې که گونډې د یونان د زاړه تمدن او د سقراط د پاخه شخصیت د مینه والو تنده ورخړوبه کړم.

ډاکتر ساجد امجد تکړه اردو لیکوال او څېړونکی دی. د (تر ټولو هوښیار یوناني) په څېر په زړه پورې داستانونه یې کابو هره میاشت په (سرگزشت) کې خپرېږي. پر دې سربېره یې ګڼ نور ناولونه هم کاږلي دي. هڅه مې ډېره وکړه، چې لږ تر لږه د نوموړي لنډ ژوندلیک ومومم، خو پاتې راغلم.

کله چې ژباړه بشپړه شوه، زړه نازړه مې استاد اسدالله غضنفر ته واستوله، هغه هم د قیق لوستو ژمنه راکړه، بله ورځ یې په یوه بریښنالیک کې خپل تفصیلي تاثر راواستاوه، دلته یې فقط یو پراګراف ستاسې مخې ته ږدم: "مننه چې یو ډېر خوږ اثر دې راباندې ولوست. له لرغوني یونان سره زما ډېره جوړه ده. زما د ماشومتوب په کوټه کې د سقراط تصویر و او د ده شواړه پوزه مې هیڅ وخت له ذهنه نه وځي. د لرغوني یونان تهذیب، تمدن، ادب، اساطیرو، جغرافیا، هنرونو او فلسفو همېشه بوخت ساتلی یم او دا مې ارمان و چې په پښتو کې یو داسې کتاب وي چې لوستونکی ورسره د خیال په مرسته زاړه یونان ته سفر وکړي. د لرغوني یونان ټول ښارونه خپل کمالونه لري خو اتن او

هغه هم د سقراط د زمانې اتن د بشر د لرغوني تاريخ په تندي باندې د تاج حيثيت لري.

ستا ژباړه هم ډېره عالي وه. باور وکړه ستا له پښتو مې خوند واخيست."

د ژباړې له پيله خپلو خوږو يارانو گل احمد محبت او نور ولي سعيد شينواري ډېر وهڅولم. باور وکړئ، که د دوی تشويق نه وای، اوس به دا اثر ستاسو په گوتو کې نه وای. ورپسې د خپلو مينه گرکو مشرانو منندوی يم چې مشورې يې راکړې، ويې نازولم او مرسته يې راسره وکړه. تکړه قاموس ليکونکی ډاکتر عبدالحميد بهيج عثماني له پيله راسره خپل وخت ضايع کړی دی. درانه استاد اسدالله غضنفر له خپلو ټولو بوختياوو سره زما الفاظ ولوستل. حوصله يې راکړه او زما يې ځانته طمع راپيدا کړه. نوموتي کيسه ليکوال ښاغلي نصيراحمد احمدي په فني او معنوي، دواړو برخو کې پخپلو مرستو او مشورو وياړ راوباښه. د دانش خپرندويې ټولنې د ستر خدمتگار ښاغلي اسد دانش د مينې او لورينې پوروړی يم چې کتاب يې له کمپيوټره ستاسو تر گوتو درورساوه.

اوس نو له تاسو هم هيله کوم چې يو ځل يې خامخا ولولئ.

ځکه اوس باوري يم چې د يادو مشرانو تر کتنې وروسته به دا کتاب په لوستو ارزي.

درنښت

نظر

ماشومانو ته د ساعت تېرۍ ښه آله په لاس ورغلې وه، مګر دا کومه نانځکه نه وه. د نورو ماشومانو په څېر یو ماشوم و چې د نورو د والدینو په څېر د ده مور او پلار هم خپل زوی په ښوونځي کې داخل کړی و.

لومړی یوه ماشوم ولید، بیا بل ولید او په دې ترتیب ټول ښوونځی پرې راټول شو. دم شېبه دی زده کوونکی نه و. نورو ته یوه ننداره ګرځېدلې وه. ماشومانو په ډېر غور ده ته کتل. سترګې یې د چینډخې په څېر بهر وتې وې. شونډې یې غټې وې او پیته پوزه یې داسې ښکارېده، لکه چا چې په کوچنیوالي کې ورمروړلې وي. د نورو پر خلاف د ده غوښه او پوستکی هم ډېر کلک معلومېده.

د ده د ظاهري بدرنګیو له مخې ماشومانو پرې له واره د (چینډخې) نوم کېښود.

لومړی یوه ماشوم ورته چندړخ وویل، بیا بل، وړپسې بل او بیا د ښوونځي ټولو هلکانو د (چینډخ، چینډخ) نارې پیل کړې. دی چې به هر چېرې تېرېده، د چینډخ، چینډخ غږونه پورته کېدل.

دی هم شرمناک و او هم غلی، ولې په زړه کې یې له دې نوم څخه بد ایسېده. دې چینډخې ورو، ورو وزرې وکړې. چا چې د ده نوم بدل کړی و، ده یې خبره وربدله کړه. کله چې یې دوه، درې ماشومان ښه ووهل؛ نو ټول وړپسې یو شول او یوه ورځ یې ښه وډباوه.

دی ټپي شوی و. له پوزې یې وینه بهېده او پر ځمکه اوږد غځېدلی و. ټولو هلکانو ښه وواهه او وتښتېدل. یو بل هلک یې خوا ته راغی او ورسره یې خواخوږي وښوده: ((زما نوم کرایټو دی. ما خپل ملګری وبوله.))

ده د زګېرویو په ملتیا ورته وویل: ((زما نوم سقراط دی، مګر هلکان راته چینډخه وایي. ته ولې ما ته دا نوم نه اخلې؟))

- زما په اند تا په همدې خبرې جګړه کړې.

- هو! خو اوس فکر کوم چې دې کې د جنګ څه خبره ده؟

زه بالکل د نورو په څېر نه یم. نور یوازې یوه خوا لیدلی شي او زما سترګې هر لور ته د لیدلو لپاره جوړې شوي دي. د وړې او نازکې پوزې پرتله، په غټه پیټه پوزه کې

هوا ښه تنفس کیږي. دې نورو هلکانو ته زور ورکوي.
دوی سوځیږي چې دا هر څه له دوی سره نشته! دوی
خو ټول مازې د قلبې غویان دي. بس مخامخ روان وي
او شاوخوا نه ګوري.

- آفرین سقراطه! د نورو خبرو پسې مه ګرځه. چې څنګه
یې، همداسې ښه یې. ما خپل ملګری وګڼه!

تر دې وروسته یې کرایټو همېشنی اندېوال شو.

د چینډخې په شان د پیت پوزی سقراط دا ښوونځی، دوه
نیم زره کاله دمخه (کابو ۴۵۰م.ز) په لرغوني ښار اتن (یونان) کې
پروت و. دا هغه زمانه وه چې روم د یوه لرې پراته کلي حیثیت درلود.
د ماڼو ګانو ( ببرۍ چلوونکو ) له خولې، انګلستان له یوه داستان څخه
ډېر شهرت نه درلود او امریکا خو مازې خوب و. د غربې نړۍ ټول پام
یونان ته اوښتی و. دلته هم فلسفي زېږېده، هم ساینس پوه او هم
شاعر. د خیال په ډګرونو کې د عقل آسونه ځغلېدل. په ښوونځیو کې
د زړورتیا ترانې ویل کېدې او په لوبغالي کې غېږنیونې سیالۍ ترسره
کېدې.

***

سوفرونس کس د اتن پېژندل شوی ډبر توږونکی (سنگ تراش) و. ده د ډبرو په توږلو کې ښې پرېمانه پیسې گټلې وې. د اتن په مشهورو ودانیو کې د ده د هنر ننداري وړاندې شوې وې. په ډبرو کې د ملي سندونو او قوانینو کاږل او خوندي کول، د نوموړي د هنر لوی کمال و. د ده ډېر وخت به له کاریگرو سره تېرېده؛ خو وخت، نیم به یې همدا کارونه په کور کې هم کول.

سوفرونس کس د قیمتي او نازکو کارونو لپاره، د یونټي لیکوس له غرو څخه د مرمرو غوړې سپینې تیږې راوړلې او کارولې. د ده وسایل هغه آلې وې چې د ده پلار او نیکه کارولې وې. هغه څټکونه چې تېرې څوکې یې لرلې او ډبرې پرې ماتېدلې. په ځانگړو ترښځونو به یې د تیږې سطحه هواروله. په برمو به یې په تیږو کې سوري ویستل. سقراط په زرگونو ځله خپل پلار په دې کار کې بوخت لیدلی و؛ خو نن یې په ښوونځي کې داسې تجربه لیدلې وه چې دی یې ژور سوچ ته اړ وېستی و.

نن چې له ښوونځي څخه راغی؛ نو رسا د کور انګړ ته د پلار خوا ته ورغی. پلار یې د زمري سر جوړاوه. هغه په خپل کار کې دومره ډوب تللی و چې هېڅ پوی نه شو چې سقراط کله راغی او کله د ده د کار ننداري ته کښېناست.

د ده پلار له څټک، پانې، او مېخونو څخه کار اخیست. یاد اوزار یې یو په بل پسې کارول. د زمري خوله او پیته پوزه جوړه شوې وه. اوس د وېرووونکو سترګو د جوړولو وار و چې ده په ډېرې ځیرتیا سره توږلې. د سقراط پام شو چې همدا څو ورځې دمخه د سنګ مرمر یوه لویه ټوټه دلته پرته وه او د ده پلار د هماغه له توږلو څخه اوس د زمري څېره سازوي.

سوفرونس کس د خپل وچولي خولې وچې کړې. څټک یې پر ځمکه کېښود. سقراط د پوښتنې وخت وموند: ((پلاره تا ته څه پته لګېږي چې ترښځ چېرته او باید په څومره زور سره یې وار کړې؟))

ښایي یا خو له سوفرونس کس سره د دې پوښتنې کره ځواب نه و او یا ورسره مناسب وخت نه و. نوموړي خپله خوله وچه کړه او بیا بوخت شو.

سقراط ته یې خوند ور نه کړ چې دی دې پوښتنه وکړي او پلار دې ورته ځواب ونه وایي. خپله پوښتنه یې تکرار کړه: ووایه کنه! ته دا اندازه څنګه لګوې؟

- تر دې وړاندې خو تا دا ډول پوښتنه نه وه کړې؟
- ما چې د زمري پېټه پوزه ولیده، راسره دا فکر پيدا شو.
- ته اوس ډېر کوچنی یې. کله مې چې دا هنر تا ته وښود؛ نو د دې پوښتنې په ځواب به خپله پوه شې.
- آیا دا هنر زه اوس نه شم زده کولی؟
- نه! ته اوس ښوونځي ته ځه، سپورت کوه، غېږې ونیسه او د تورې چلول زده کړه. کله چې ستا متې پیاوړې شي؛ نو دا هنر زه په خپله تا ته درښیم. هماغه شان چې ستا نیکه ما ته راښوولی و.

سقراط ورپسې شله شو: ((زه تر لویېدو پورې انتظار نه شم کولی.))

- ته ډېر ضدي انسان یې. یو ځل چې دې خبره ونیوله، بیا یې نه پرېږدې. پلار یې اوزار یو ځل بیا پر ځمکه کېښودل او خبره یې وغځوله:
- ته باید زمری په تیږه کې محسوس کړې. داسې فکر وکړه چې زمری د ډبرې په منځ کې ایسار دی او ته داسې اراده وکړه چې د ډبرې له منځه به یې راوباسې. اوس چې څومره زمری تا ته ښه ښکاري، له هماغومره ډاډ سره ته په دې پوهېږې چې ترښځ به چېرته وهې او

گوزار به په څومره زور سره کوې؟ دا هر څه په تمرین او تجربې سره کیږي. که تا اوس په تیره باندې گوزار وکړ، نو پټ زمری به ټپي کړې. چې ستر شې، زه په خپله درته له ډېرې څخه د زمري د راایستلو چل ښیم. اوس له دې ځایه تښته نو. مور دې راغلې ده. له هغې سره کښېنه!

د پلار پر امر سربېره هم څو شېبې هملته ناست و او د نومورې پر خبرو یې سوچ کاوه؛ خو سر یې پرې نه شو خلاص. پاڅېد. د مور خوا ته راغی.

مور یې ریتې فیتې نومېده. نومورې په چم گاونډ کې د قابله گۍ په چارو کې ډېره لایقه گڼل کېده. دې کار لپاره نورې ښځې هم وې؛ مگر لویو، لویو کورنیو ته ریتي فیتي بلل کېده. سقراط اوس دومره هم تکړه نه و چې له مور څخه د هغې د وړتیا په اړه وپوښتي، خو ډېر ځنډ وروسته یې له مور څخه پوښتنه وکړه: ((مورې! ته دا کار څنگه کوې؟ مور یې ځواب ورکړ: زه خو خپله هېڅ هم نه کوم. یوازې د ماشوم په زېږون کې له هغې سره مرسته کوم.))

تر دې وروسته کرارې راغی او د مور تر خوا د څرمنې پر بسترې وغځېد. د پلار خبرو یې تر اوسه په غوږو کې انگازې کولې. سترگې یې

پټې کړې، که ګوندې کوم مطلب ترې وباسي؛ خو همداسې ویده شو.

چې سترګې یې پرانستې، نو په ډیوه کې د زیتون تېل اچول شوي وو. له انګړ څخه کوم غږ نه راته. د دې معنا دا وه چې پلار یې خپل کار پای ته رسولی دی او له خپلو ملګرو سره د ګپ، شپ لپاره بهر وتی دی.

د اتن خلک د خبرو ډېر مینه وال وو. په بازارونو، لوبغالو، مېلمستیاوو او نورو مراسمو کې به هر ځای مجلسونه وو. کله به د لوبو او سیاست په اړه بحثونه وو او کله به د جګړې او امن په اړه. سوفرونس کس هم د همدې ټولنی بچی و او همدا چې وزګار به شو، د شپې تر ناوخته به له ملګرو سره ناست و.

د سقراط مور به د خپل خاوند تر ستنېدو پورې سقراط ته د ارباب الانواعو کیسې اورولې چې د ارباب الانواعو مینه د ده زړه ته ورکوزه شي او د ده په کړو، وړو کې ښه والی راشي. دا په زړه پورې کیسې په سقراط هم ښې لګېدې.

ریتې فیتي غوښه پخه کړې وه. مور او زوی کښېناستل او غوښه یې وخوړه.

په خونه کې څراغ ګل او بل کېده. بهر وېروونکې تیاره خوره وه. دا د دوی لپاره نوې خبره نه وه. غیر معمولي خبره دا وه چې خورا

تېز باد لګېده. اوس خو نوره هم اړينه وه چې د سوفرونس کس تر ستنېدو دې، د خوب الهه ونه ځورول شي. مور يې سوکه وويل: ((داسې ښکاري، لکه چې د بحر رب النوع پوزايډن بيا په کومه خبره خپه شوی دی.))

سقراط پوښتنه وکړه: ((ښه...! چې هغه خپه شي، نو بيا داسې کيږي؟))

- هو!

- خير ولې په غوسه کيږي. ارباب الانواع خو بايد چې مرور نه شي.

- ته لا وړوکی يې. په دې خبرو نه پوهېږې.

سقراط خپل دماشومتوب ضد ونيو: ((ووايه کنه! پوزايډن ولې په غوسه کيږي؟))

- ځه! نن درته همدا کيسه کوم. سقراط په کراره اوږد وغځېد. ريتې فيتي کيسه پيل کړه:

((اوډي سيس به چې کله هم په ستونزه کې راګير شو، هوښياري ايتنيا به د دنګې او ښکلې ښځې په څېره کې، کله پټ او کله برالا ورسره مرسته کوله. هغه چې به هر چېرته وه، د ده د فرياد په اورېدو به يې ځان مرستې ته ورورساوه. کله کله به داسې هم کېده چې د اوډي سيس مخالف رب النوع به، ايتنيا د ده مرستې ته نه

پرېښوده. په داسې حالاتو کې اوډي سيس له مصيبتونو سره يوازې جنګېده.

يو ځل د بحر د رب النوع پوزايډن له زوی، سايي کلوپس سره د اوډي سيس شخړه راغله. اوډي سيس هغه ړوند کړ.

ده دا کار د خپلې دفاع لپاره وکړ؛ خو تېروتنه يې دا وکړه چې خبره يې ډنډوره کړه.))

سقراط يې خبره ورپرې کړه: ((آيا له رب النوع څخه هم تېروتنه کيږي؟))

- که ته په خبرو کې رادانګې؛ نو زه نوره کيسه نه کوم.

- ښه ووايه! زه نورې خبرې نه کوم. بيا څه وشول؟ مور يې پاتې کيسه ورغوټه کړه:

((څه به کېدل؟ سايکلوپس خپل پلار ته شکايت وکړ او ورڅخه يې وغوښتل چې له اوډي سيس څخه د ده کسات واخلي. پوزايډن له همدې ورځې وروسته پرېکړه وکړه چې اوډي سيس به يې د بحر تر غاړې وليد؛ نو توپان به يې راوسته. که اوډي سيس به يې په لاس کې نه کېوت؛ نو بيا به يې بېړۍ چلوونکو ته سزا ورکوله چې ولې يې اوډي سيس ته پناه ورکوله.

يو ځل همدا چې اوډي سيس له بېړۍ څخه کوز شو، بېړۍ يې په ډبرې واړوله. بېړۍ په بحر کې کښېناسته او ټاپو ترې جوړه شوه.

د دې لپاره چې خلک ترې پند واخلي او بیا د اوبو د رب النوع له دښمنانو سره څوک مرسته ونه کړي.))

سقراط بیا پوښتنه وکړه: آیا ارباب الانواع هم د انسانانو په څېر یو له بل سره کینه کوي او په خپلو منځو کې جګړې کوي. دوی ته داسې کول نه دي په کار!

ریتي فیتي د سقراط د وېرولو په پار د شهادت ګوته پر خپلو شونډو کېښوده: ((شششششش! پام...! خلک د ارباب الانواعو په اړه داسې خبرې نه کوي. ستا په څېر ځینې نورو خلکو هم د دوی په اړه همداسې خبرې کولې. هماغه و چې نور یې د انسانانو تر منځ راتګ پرېښود. کنه همدا څو کاله وړاندې، دوی چې به له کومو خلکو سره مینه کوله، مرستې ته به یې ورتلل. هغوی ځان لپاره نه؛ بلکې زموږ لپاره خپلمنځي جګړې کوي. ستا له پیدایښت څخه لس، دولس کاله مخکې همداسې یوه پېښه وشوه.)) سقراط ته تلوسه پیدا شوه: ((ښه نو؛ دا څه کیسه وه؟))

مور یې بله کیسه پیل کړه: د ایران پاچا پر یونان یرغل وکړ. ایراني لښکرو د ملخانو په څېر پر یونان هجوم راوړ. دا پوځ دومره ډېر و چې یوازې په اوبو څښلو یې د سیند اوبه وچې کړې. دومره غشي وریدل چې لمر نه ښکارېده. ایراني پاچا په (بېلس پولټ) کې د کښتیو پول جوړ کړ؛ مګر پول د دومره شمېر سرتېرو توان ونه موند او رانسکور

شو. مغرور پاچا اوبه دومره درې ووهلې، لکه بحر چې د ده نه منونکی غلام وي.

ارباب الانواعو ته د نوموړي دې کار خوند ور نه کړ. که څه هم دا جګړه د انسانانو وه، خو ارباب الانواعو هم ور ودانګلې. رب النوع خو له هغه چا سره مرسته کوي چې په حقه وي. ایرانیانو کبر کړی و او خدایانو دوی ته د سزا ورکولو پرېکړه وکړه. دوی د یونانیانو مرستې ته ورکوز شول. کله چې له ایرانیانو سره د یوناني بېړیو نښته پیل شوه، ارباب الانواع د یونانیانو په پلوۍ ودرېدل.

د ایران پاچا له پړقنده جامو سره د بحر په غاړه پر خپل تخت ناست او د جګړې ننداره یې کوله. دایرانیانو شمېره زښته ډېره وه. د هغوی بریا یقیني وه؛ خو ناڅاپه یې په پوځ کې ماته ورګډه شوه او شا تګ ته اړ شول. دا سزا یې دې لپاره هم ولیده چې د مخالف لوري عبادتځایونه یې سوځولي وو.

کښتیو یې د پایمال شوو وښو په څېر په اوبو کې لمبلې او بیا ډوبې شوې. د دوی ګڼ شمېر پوځیان ووژل شول. دا د ارباب الانواعو معجزه وه چې په ایران کې بغاوت پیل شو او پاچا له یونان څخه د ایران پر لور پښې سپکې کړې.

آیا ته اوس هم شک کوې چې خدایان د انسانانو مرسته نه کوي؟ ستا پلار چې د تیرو سینې ځیروي او ترې مجسمې جوړوي، دا هم د ارباب الانواعو له مرستې پرته ناشونی دی.

تر دومره اوږدو کیسو پس هم، سوفرونس کس کور ته نه و راغلی. ریتې فیتي په زړه کې خپل خاوند ته غوسه وه چې ولې تر دومره ناوخته بهر پاتې کیږي! د څراغ تېل هم په خلاصېدو و. خپل زوی سقراط ته یې امر وکړ چې خپلې بسترې ته لاړ شي.

د سقراط له غځېدو څو شېبې پس په انګړ کې د پښو بنکالو شوه. پلار یې کور ته راننوت. ریتې فیتي ترې خپه وه. خو په راتلو یې داسې خبره وکړه چې له هغې خپله غوسه هېره شوه:

- د سقراط مورې! آیا مورِ له مذهب څخه دومره لرې شوي یو چې د مذهبي ورځو لمانځل هم رانه هېر شوي دي؟
- زما خو په یاد وي؛ خو له تا څخه هېریږي.
- خیر ووایه چې لس ورځې وروسته د څه شي جشن دی؟
- خدای دې دا د کور کارونه ځنګه کړي. له ما یې هم هېر کړی. ته ووایه کنه، د څه شي جشن دی؟
- د اتینیا بت ته د غسل ورکولو جشن دی. ما ته هم اوس ملګرو وویل. خلک لګیا دي، ورته چمتو والی نیسي او

زه او ته کراري لاس تر زنې ناست یو. زموږ خو بیخي په
یاد نه دی نو!

مېرمنې یې خپله پوره دلچسپي وښوده: ((خیر، لس ورځې
خو شته. زه ورته تیاری نیسم. قرباني ده او نذر ورکول دي. هر څه به
وشي.))

- دا ځل سقراط هم له ځان سره بیایو. پروسږ کال خو
ناروغ شو. سږ کال له خیره لوی شوی هم دی. پیاده
تلی شي.

سقراط ویده نه و. ټولې خبرې یې په غور اورېدې. په زړه کې
خوښ و چې مندر (عبادتځای) ته د ورتلو موقع یې موندلې ده. په
همدې سوچونو کې یې سترګې سره ورغلې وې.

سبا چې ښوونځي ته لاړ، نو له ښوونځي څخه لږ لرې، کرايټو
ورته ولاړ و. ورته یې کړه: ((ملګریه! نن به موږ په ګډه ښوونځي ته ځو
چې نور هلکان دې د چینډخې په نو م ونه ځوروي. ته خو پوهېږې
چې زه په غېږې ایستلو کې څومره تکړه یم. دا خبره ټولو ته معلومه ده.
ټول هلکان له ما څخه ویرېږي.))

دواړه د ښوونځي پر لور وخوځېدل. ډېر هلکان راټول وو. د
کرايټو په لیدو ټول غلي شول. که چا به ورو شان د چینډخې غږ وکړ؛
نو کرايټو به پرې ځان کوږ اړاوه.

د موسیقۍ ساعت و. کله چې د مو سیقۍ زوړ استاد گلاکس ټولگي ته ننوت، زده کوونکي ورته د درناوي په دود ودرېدل. گلاکس د زده کوونکو د ډارولو په پار، له ځان سره راوړې لښته یوه خوا کېښوده. کرایټو او سقراط خوا په خوا ناست وو. گلاکس له یوې ځانگړې لهجې سره د هومر یو شعر پیل کړ. زده کوونکو به په ښوونکي پسې بیتونه تکرارول:

((زړور ایکي لیز له پاچا سره ښکېل شو

له جگړې څخه یې انکار وکړ

پاچا د ده پر ځای د ده ملگری واستاوه

کله چې یې دوست په جگړه کې ووژل شو

ایکي لیز چا له جگړې څخه په شا نه شو کړای

مور یې چې یوه الهه ده، دی یې منع کړ

مور یې منع کړ چې دی د مرگ خولې ته روان دی

زه مرگ قبلوم؛ خو له یوه ملگري سره غداري نه شم کولی!

که ما دا مهال له جگړې څخه ځان وویست؛

نو زه به د ځمکې پر سر یو بوج جوړ شم!

ایکي لیز وویل:

ای مورې! ته چې څه وایې، هغه ټول سم دي

ژر ده چې زما آسونه به زما ویر وکړي

مګر زه له خپل ملګري سره غداري نه شم کولی

اوس دا جګړه د پاچا نه، زما ده....))

کرایټو په ډېره مینه سقراط ته وکتل. لکه د شعر د کیف پوښتنه چې ترې کوي. کرایټو په خورا ټیټ غږ سقراط ته وویل: ((څومره خوندور شعر و!)) مګر د ګلاکس له وېرې یې ډېره ستاینه ونه شوه کړای او بېرته ښوونکي ته متوجه شو.

درسي ساعت چې پای ته ورسېد، ټول زده کوونکي لوبغالي ته د غېږ نیونې د سیالۍ نندارې ته لاړل. کم عمره پهلوانانو خپل زور ازمویه.

کرایټو د غېږنیونې په فن کې خورا مشهور و. دا د ده لومړني وختونه وو. د کومې سترې اتلولۍ د ګډون موقع یې نه وه موندلې؛ خو اټکل داسې کېدای شو چې په راتلونکې کې به د ډېر لوی نوم خاوند شي.

سقراط د میدان تر خوا ناست او په مینه یې د کرایټو د سیالۍ نداره کوله. نن د بل ښار له یو پهلوان سره د کرایټو مقابله وه. راغلي پهلوان څو ځله کرایټو پورته کړ او په ځمکه یې وویشت. سقراط پرلپسې دعاګانې کولې چې کرایټو بریالی شي. د هغه عادت و چې کله به خوشاله و نو دعاګانې به یې کولې.

کرایټو له پهلوان څخه پرلپسې ماتې خوړه، خو ناڅاپه یې بدن ته برېښنا ننوته. اوس په خپل سیال بریالی شوی و. له میدان څخه د نندارچیانو د چکچکو او شپېلیو شور پورته شو. بل ځل یې خپل سیال پورته کړ، له ډاګې یې وویشت او نېغ یې پر سینه کښېناست.

له غېږنیونې وروسته دواړو یو بل ته لاسونه ورکړل او د جامو بدلولو کوټې ته لاړل. د سقراط بدرنګه څېره له ډېرې خوښۍ څخه ځلېده.

سقراط وویل: ((کرایټو آشنا! څومره ښکلې لوبه وه! او هغه د هومر په شعر کې ایکي لېز تقریر هم ډېر ښایسته و. دا غېږ نیونې پورې اړه نه لري خو ښایسته وه. زه دې ته سوچ کوم چې په دواړو کې څه توپیر و؟)) له دې سره په سوچ کې ډوب شو. له کرایټو سره دومره وخت نه و چې د سقراط د چورت وهلو سیل وکړي. هغه یې وښوراوه او بهر راغلل، مګر اوس د سقراط په ځای کرایټو په سوچ کې ډوب شو چې د (ښایسته) له کلمې څخه د سقراط موخه څه ده او ولې بیا بیا دا کلمه تکراروي؟

کله چې سقراط د کور پر لور رهي شو؛ نو ویې لیدل چې د کلني جشن د لمانځنې تیاری روان دی. د اېتنیا الهې بت جوړېده. یو ځای کې یې تنکي ځوانان ولیدل چې په ځان تېل مږي او په ډېرې

تېزۍ سره د اس ځغلونې د میدان لور ته ځي. بل ځای کې د فلزي تبۍ د گوزارولو سیالي وه. څه شېبه یې د دې په زړه پورې لوبې ننداره وکړه. شپې ته د اور لېږدونې سیالي وه چې سر له اوسه ورته چمتو والی نیول کېده. دی تر شپې پورې دلته نه شو ایسارېدی؛ ځکه خو د کور پر لور رهي شو. کور ته په رسېدو یې ولیدل چې مور یې هم په هماغو تیاریو بوخته ده. له لرگي څخه د اېتنیا بت جوړ او په حوېلۍ کې ایښودل شوی و. په یو لوی مرتبان کې د زیتونو تېل وو چې ټاکل شوې وه، د عبادت پر ورځ پر بت وشیندل شي.

خپله مور یې د نورو خلکو له تیاریو څخه خبره کړه. هغه هم په مذهبي جذبو کې دومره گرمه راغلې وه چې ځان یې د اېتنیا الهې پر ستاینې ښه ستړې کړه:

د اتن په شمال کې یو غر دی چې د (ښار بام) بلل کیږي. دا ځای خورا سپېڅلی گڼل کیږي. ځکه چې دلته د بحر د رب النوع او د اېتنیا الهې سیالي ترسره شوې وه. د ښار د مشرۍ پر سر، دواړو لوریو د ډالیو د وړاندې کولو سیالي وکړه. د بحر رب النوع پوزایډن په ډالۍ کې جنگي آس ورکړی و. ده چې خپله چاړه پر ځمکه ومنډله؛ نو یوه چینه وخوټېده. دا چینه تر ننه شته. زموږ الهې اېتنیا، د زیتونو تحفه ورکړه. چینه له زیتونو سره چېرې سیالي کولی شي؟

اېتنیا د ښار الهه شوه او اتن د زیتون له باغونو څخه ډک شو. ته خو ګورې چې تر ننه زیتون څومره زموږ په درد خوري!

خدای دې فارسیان تباه و برباد کړي، پر اتن یې یرغل وکړ او کور ورانو د اېتنیا ایکرو پولس معبد وسوځاوه. هغه ستنې یې تر اوسه دود وهلي دي. که هلته لاړې، په خپله به یې وګورې. زموږ د اتن پر خلکو د اېتنیا ډېر لوی احسان دی. د هغه عبادت او هغه ته نذر ورانديې کول، پر موږ فرض دي. همدې لپاره موږ هر کال دا جشن لمانځو. زموږ لاربنود، فارقلیس غواړي چې اوس دا ستنې بېرته ورغوي. هرو، مرو به خدای ورسره مرسته کوي.

- مورې تاسو څه شی قرباني کوئ؟

- تر اوسه وخت شته. هماغه ساعت، هماغه مصلحت!

څومره چې د جشن ورځې رانږدې کېدې، هومره به په اتن کې مېله وار په وار ګرمېده. د ښار شکل کرار کرار بدلېده. هټۍ (دوکانونه) سینګار شوي وو. ټوله ورځ هلکانو اخوا، دېخوا منډې وهلې. سقراط هم په همدې ډلو کې شامل شوی و او د اېتنیا الهې چغې یې وهلې.

بالاخره هغه ورځ راورسېده چې له خپل مور، پلار او ګڼو نورو خلکو سره د یوه لاریون په ډول مندر ته روان شول. مور یې د ده پر څېرې ډول، ډول رنګونه وشیندل. قواره یې لا پسې وېروونکې شوې وه. تر دې بریده، کله چې په مذهبي جشن کې نورو هلکانو ولید؛ نو

خندلې يې پرې. ماشومان خو ماشومان وو، ځينو لويانو هم پر خپل مخ زېړ او سره رنګونه سولولي وو. ترپکې يې وهلې او حيرانوونکي حرکتونه يې کول. کله به د سقراط په زړه کې ايمان ځای ونيوه او کله به په سوچونو کې ډوب شو چې دا خلک ولې داسې کوي؟ تر ټولو خواشينوونکې خبره خو دا وه چې د همدې الهې له امله خلکو ته په ده باندې د خندا موقع برابره شوې وه. کله به يې د خپلې مور ګوته ټينګه کړه او کله به يې د هغې لاس خوشې کړ او په ګڼه، ګوڼه کې به ورک شو. بالاخره هغه ځای راورسېد چې خلکو په کې قرباني ګانې او نور مراسم ترسره کول.

هغه پر ټوله لاره د خپلې بدرنګۍ په اړه سوچونه کول. د ماشومانو خنداګانو د ده په غوږونو کې انګازې کولې. له همدې امله، کله چې يې مور ورته د دعا کولو وويل؛ نو د ده پر شونډو له بد رنګۍ څخه د خلاصون دعا راغله:

((اوس خو زما څېره نه بدلېږي. زما باطن ښايسته کړې. ما ته د عقل دولت راکړه او ورسره داسې متناسب روح راکړې چې زما د عقل د شتمنۍ بار پورته کړي. خدايان لويي بده ګڼي. په ما کې غرور پيدا مه کړې!))

دا دعا بالکل د ده له مزاج سره برابره وه. ده ډېرې ورځې پر دې غور کاوه چې د ښايست حقيقت څه دی؟ د ښکلا اصله معنا

څه ده؟ تر دې دمه د ده په ذهن کې په دې اړه کوم ښکاره تصور نه و؛ ولې بیا هم په دې پوه شوی و چې ښه عادتونه، ښایست دی. د همدې لپاره یې دعا وکړه چې د ده باطن ښکلی شي.

دی ورو، ورو لویېده. له عمر سره سره د ده د اندېښنو او پوښتنو لړۍ هم غځېده. د خپلو اندېښنو د لرې کولو لپاره یې له ځینو خلکو سره لیده، کاته هم کړي وو چې له دې ډلې، یو هم ماوس و چې کلالي یې کوله. په ټول ښار کې د ده په شان ښکلی کلال نه و. سقراط اوس په دې اړه سوچ کاوه چې لوښي خو ټول جوړوي؛ ملګر د ماوس لوښي ولې ښکلي دي؟ د ده په لوښو کې کومه ځانګړتیا ده چې له امله یې دوی ښایسته کیږي؟ که دا خبره معلومه شوه؛ نو د حسن حقیقت هم معلومیږي.

کرایټو لیدل چې سقراط ډېر غلی وي. هر وخت په سوچونو کې ډوب وي. که دی یې کوم وخت د خاموشۍ لامل پوښتي؛ نو هم ځان تېرباسي.

د داسې ملګري خاموشي، ده نه شوه زغملی. بالاخره یوه ورځ سقراط هغه د مجهولاتو له دې بند څخه خوشې کړ. دواړه له ښوونځي څخه د کور پر لور رهي وو چې آشنا لاره یې پرېښوده او له کرایټو سره پر بله لاره سم شو. کرایټو ورته وویل: ته ما چېرته بیایې؟

- له خپل یو ملګري سره دې مخامخوم.

- تر دې وړاندې خو تا را ته نه وو ویلي چې له ما پرته بل ملګری هم لرې!

- هر څه ځان ته وخت لري. نن هغه وخت رارسېدلی چې ته له هغه سره وګورې.

کرایټو به کله کله ورڅخه وېرېده. دا هم هماغسې شېبې وې. سقراط له خپل عمر څخه پخې خبرې کولې. هغه غلی ورسره روان و.

کله چې سقراط د ماوس د دوکان مخې ته ودرېد؛ نو کرایټو پوی شو. هغه د دې دوکان له مخې څخه څو ځله تېر شوی و؛ خو د ننه نه و ورغلی. هغه خوښ شو چې د سقراط له برکته یې د ماوس له هنر څخه د لیدلو موقع وموندله. ورسره دا فکر هم ورغی چې سقراط څه ډول له ده سره آشنا شوی دی؟ ځکه، هغه ډېر بد مغز و. له چا سره یې روغه خبره هم نه کوله.

کله چې دواړه دننه شول؛ نو ماوس په څرخ کې یو بلا لمده خاوره اچولې وه. سقراط کرایټو ته اشاره وکړه چې ځان غلی ونیسي او بیا دواړه یو خوا ته کېښناستل. ماوس د کلالۍ څرخ تاووه.په لاس باندې به یې کله ختې اوږده کړه او کله به یې کېښېنوله. مخامخ ورته یو برابر هلک ولاړ و چې څرخ به یې تاووه. ناڅاپه یو بدلون راغی. ماوس لاس پورته کړ او په ختې کې یې ګوته واچوله. ورو، ورو د لوښي شکل

په معلومېدو شو. ښايي سقراط تر دې وړاندې هم دا صحنه ليدلي وه؛ خو کرايټو ته نوې خبره وه. هغه څه چې نه و، اوس و. ختۀ د لوښي په شکل کې ښکاره شوه. ژوندی؛ کټ مټ د يوه ساه لرونکي په شان!

څو شېبې يې د يو څه د اندازه کولو لپاره څرخ ودرواه. سقراط وخت وموند. ويې پوښتل: ((ماوسه! دا ښکلی دی؟)) ماوس ځواب ورکړ: ((هو! ته ورته ښايسته ويلی شې؛ خو کار په کې پاتې دی.)) سقراط بيا وويل: ((دا اوس هم ښکلی دی.)) ماوس د لوښي پر غاړه لاس راکش کړ: ((زما هم همدا خيال دی. هغلته چې هغه لوښی ايښی دی، هغه هم ښکلی دی. پرون چې کوم لوښی تا ليدلی و، هغه ښايسته نه و. هغه له ما څخه خراب شوی و. عيب يې پټ و. عام خلک پرې نه پوهېدل.))

- خلک تل همداسې کوي، کوم چې ته کوې. دوه شيانو ته اشاره کوي چې ښکلي دي. زه په دې پوهېدل غواړم چې په دواړو کې څه شی مشترک دی چې له امله يې دواړه لوښي ښکلي دي. ښايست دی څه شی...؟ ته ښايسته څيزونه جوړوې. د دې ځواب همدا ته ورکولی شې.

- سقراطه! زه په دې نه پوهېږم. زه خو یوازې ښایسته لوښي جوړوم. دومره ویلی شم چې یو ښه او بې عیبه لوښی، ښایسته لوښی وي.
- خو ماوسه! هغه ولې ښه وي؟
- ښه لوښی هغه وي چې کوم کار لپاره جوړ شوي وي، هغه په صحیح ډول ترسره کړي. همدا صراحي دروخله. که دا لاندنۍ برخه ترې لرې کړم، لاندې به راګوزار او ټول شراب به ترې توی شي. بیا دې ته ښه صراحي نه شو ویلی.

دا ځل سقراط د ماوس خبره په ډول تکرار کړه: د دې خبرې معنا دا ده چې که څیز ښه وي؛ نو ګټور او ښکلی دی.

- زه همداسې فکر کوم، ګرانه سقراطه!
- اوس یوه بله پوښتنه پیدا کېږي. ولې ټول کلالان ښې (صراحیانې) نه جوړوي؟
- ښایي دې لپاره چې دوی ته به د ښې صراحۍ جوړولو چل زده نه وي.
- که دوی دا چل یاد کړي؛ نو آیا هغوی به هم ښایسته صراحۍ جوړې کړي؟ خو دا پوښتنه بیا هم پاتې کېږي چې دا قاعده یا چل جوړ چا کړ؟

ماوس له ځنډ پرته کړه: ((لوښي جوړوونکي له ډېر پخوا نه دا کارونه کوي.))

- د صراحي نقشه ستاسو ذهن ته له کومه راځي؟

- زه په دې نه پوهېږم چې څنګه او له کومه راځي. تا ته زما مشوره دا ده چې دا کار یاد کړه. بیا به ته په خپله پوی شې.

تر غرمې پورې همدا خبرې روانې وې. کله چې له هغه ځایه پاڅېدل، کراټېو په دې باور شو چې په اتن کې یو نوی فلسفي پیدا شوی دی.

په همدې سوال او ځواب کې ورځ تېره شوه. هغه د ښار له هوښیارانو سره ناسته، پاسته کوله او د خپلو پوښتنو، ځوابونه یې لټول.

د دې وخت دود داسې و چې زوی به د پلار دنده پر مخ بیوله. پر همدې اساس، کله چې دی د دیارلس، څوارلسو کلو شو؛ نو پلار یې له ښوونځي څخه وویست.

سقراط په دې کار لږ هم خوابدی نه شو. ده ته چې څومره له ښوونځي څخه ګټه اخیستل په کار و، هومره یې ترې واخیسته. د پخوانیو اتلانو ترانې د ده په غوږو کې وې. د غېږنیونې، منډې او د

لوبغالي نورې لوبې یې یادې کړې وې. که څه هم هغه په هېڅ برخه کې یو ښه لوبغاړی نه شو؛ مګر په پرتلیز ډول یو څه ترې خبر شو.

اوس اړ و چې  د ډېر تورنې دنده زده کړي. ځکه د ده د پلار په خبره، په دې کسب کې ښه ګټه ده. سقراط د دې لېوال و چې له ډېرو څخه د پټو شیانو د رابرسېره کېدو ننداره وکړي. د ماوس، کلال خبرې یې په ذهن کې تازه وې.

کله چې له پلار سره کار ته کښېناست؛ نو ډېره موده یې ټک، پک کارونه کول. د ده پلار نه غوښتل چې په لومړیو کې کوم غټ کار ده ته وسپاري او د مرمر په شان ارزښتمنه ډبره پرې خرابه کړي. د سطحې له هوارولو وروسته، کله چې به اصلي کار پیل شو؛ نو د سقراط پلار به کار کاوه او زوی به یې ورته وسایل ورکول. د پلار له لارښوونې سره سم به یې کار ته په ځیر، ځیر کتل.

کله چې به له تیږو څخه پېژندل شوي شیان ښکاره شول؛ نو د سقراط په زړه کې به جذبې او احساسات په  څپو شول. په زړه کې به یې ویل: زما د پوښتنو ځوابونه به هم همداشان یوه ورځ له بند څخه خلاص شي!))

د یو کال په اوږدو کې د سقراط پلار پوه شو چې د ده په زوی کې د یو ښه ډېر تورونکي د جوړېدو متره نشته. ده له کار څخه

ځان نه پټاوه؛ بلکې بې احتیاط و. هر وخت به له دې وېریده چې هسې نه، د ځټک له کلک ګوزار سره ډېره ماته کړي.

سقراط هم په خپلې بې احتیاطۍ پوهېده؛ خو ښکاره کولی یې نه شوه. د خپل پلار پر وړاندې یې هم نه شوه کولی. ځکه دا پخپله له جرم څخه کم نه و چې دی دې پلرنی کسب پرېږدي او بله دنده پیل کړي. هغه ته په کار و چې پلرنۍ دنده زده کړي او بس؛ مګر حقیقت دا و چې د ده مهارت د انسانانو په برخه کې و، نه د ډبرو. هغه له کار څخه ډېر دې ته خوشالېده چې له پېرېدونکو سره وګوري او خبرې ورسره وکړي. د عمر له ډېرېدو سره یې په زړه کې دا هیله وټوکېده چې بهر ووځي او وګوري، په نړۍ کې څه روان دي؟

د سقراط پېر (دوران) هغه و چې په اتن کې نوې، نوې تجربې کېدې. د نویو خیالونو او تصورونو پلټنې کېدې او دومره ښایسته څیزونه جوړېدل چې د نورو ښارونو خلکو د دوی په سلمه برخه هم نه شوای سازولی. کوم پېرېدونکي چې به د سوفرونس کس خوا ته راغلل، سقراط به له هغوی سره د نړۍ په اړه خبرې کولې. سږ کال به په المپیک لوبو کې د غېږنیونې سیالۍ څوک وګټي؟

کله چې لږ نور را لوی شو او د پلار له قید څخه لږ را خلاص شو؛ نو د اتن د خلکو غونډو ته ورته، کومې چې بازار ته نیږدې د یوې غونډۍ پر سر کېدلې. په دې ناستو کې د مصر، کوچنۍ اسیا او تورې

بحیرې په اړه بحثونه کېدل. په بحث کوونکو کې به له بهر څخه راغلي ایرانیان هم شامل وو. همداراز هغه بېړۍ چلوونکي هم وو چې د سهیلي روسیې له بندرونو څخه به داسې خبر وو، لکه له خپلو چې خبر وو. دوی به د خپلو سفرونو تجربې اورولې. سقراط ورو، ورو له بهرنۍ نړۍ څخه هم خبرېده.

د روم د بحیرې د ټولو سیمو هنرمندان او کاریګر (شاعران، سندرساز (سندرې جوړوونکي)، انجینران، ختګر او سوداګر) اتن ته راتلل. دا هغه خلک وو چې د اتن په غېږ کې نه وو زېږېدلي.

سقراط اړ نه و چې د په زړه پورې خلکو لیدنې لپاره ډېر لرې لاړ شي. دا ننداره د ده په خپل ښار کې وه.

دې لیدنو او خبرو د سقراط پر ختګ د متروکې په شان کار وکړ. ده دا خبرې د نورو ځوانانو په شان سرسري نه اورېدلې؛ بلکې تر ډېرې ځیرنې او غور وروسته به یې په ذهن کې خیالونه جوړول. هغه تر لږ غور وروسته پوه شو چې خلک یوازې خبرې کوي، فکر پرې نه کوي. دوی مازې کیسې کوي. له پوښتنې څخه پوښتنه نه پیدا کوي چې د خبرو ژورو ته ورکوز شي. سقراط اوس ماشوم نه و چې خلک یې خبرو ته پام ونه کړي. هغه د وینا ځانګړی سبک خپل کړی و. هغه یو په بل پسې پوښتنې کولې او مخاطب لوری به یې په اندېښنه کې واچاوه. نوموړی دومره منلی شو چې خلکو به هسې له ټوکو نه

یوه پوښتنه وکړه او ده به له یوې پوښتنې څخه زر پوښتنې جوړولې. خلکو به د سقراط له دې کار څخه خوند اخیست!!!

دی اوس شل کلن و. د ده د ملګرتیا او اړیکو کړۍ هم ارته شوې وه. اوس یې یوې بلې خبرې ته پام اوښتی و. هغه لیدل چې هر څوک یوازې په خپلې کارې ځانګې پورې محدود دی. د ده د ښار د استوګنو ذهنونه ګډوډ دي. که کلال دی؛ نو یوازې د همدې برخې خبرې کوي. له دې پرته به هېڅ هم ترې وانه ورې.

د اتن په ژوند کې د الهو او ارباب الانواعو لوی لاس و؛ مګر د خلکو په ذهنونو کې د خدایانو په اړه وېره وه. په ذهنو کې یې خیالي کیسو او افواهاتو ځای نیولی و؛ مګر هېچا هم ځان له اصل او معیار سره نه پرتله کاوه. په عام ډول دوی هم د خپلو خدایانو په اړه د ناسم تصور پلویان نه وو. کله چې به ترې د ارباب الانواعو په اړه پوښتنه کېده؛ نو په ځواب کې به یې یو بلا کیسې پیل کړې. لکه ده چې په لومړیو کې د رب النوع وګړو له چارو سره ډېره لېوالتیا ښوده خو اوس ترې لرې شوی دی. ارباب الانواعو دښمنان هم لرل چې دوی به ترې کرکه کوله. خلک د ارباب الانواعو په اړه په دې اند وو چې دوی یو وخت د اولمپس په غره کې اوسېدل، کوم چې په اسمان کې دی. دوی د ځواکمنو او پیاوړو ارادو لرونکو انسانانو په څېر وو.یو بل به یې

په غره کې ننګول او د مطلوبو انسانانو پر سر یې یو له بل سره نښتې کولې.

پر دغو ټولو ښو او بدو خیالونو سربېره به یې د خدایانو په عبادت کې هېڅ ډول بدي نه لیده. لاریونونه به یې کول او قربانۍ به یې کولې. په دې چارو کې به یې دومره ټینګار کاوه چې دا خبره عامه شوې وه: ((ځوک چې په عبادت کې ګډون نه کوي؛ نو هغه په ښار کې څه کوي؟))

اوس ارباب الانواع د ښار خدایان وو او له انسانانو سره یې هېڅ لېوالتیا نه ښوده؛ مګر اوس یې هم وګړو ته د سزا ورکولو توان لاره. د همدې لپاره خلک له ارباب الانواعو څخه وېرېدل او د دوی په نوم خوړلی سوګند به یې ترسره کاوه.

په لرغونو وختونو کې به ارباب الانواعو جګړې کولې، دروغ به یې ویل، غلاوې به یې کولې او د خلکو په جامه کې به یې بدماشي ګانې کولې. د سقراط په زمانه کې داسې تصور دود شوی و چې خدایان یې د پخوا په څېر نه دي؛ ولې بیا هم ځواکمن ګڼل کېدل. بدلمني او وژنه به یې نه ښښل کېدونکي ګناهونه ګڼل.

ټولنه د یوه تضاد ښکار وه. د ده ملګرو به په یوائیتوب کې د ارباب الانواعو په چالاکیو پورې ټوکې او مسخرې کولې، په داسې حال کې چې په ډرامو کې د همدې خدایانو په واسطه ګناهګارانو ته سزا

ورکول کېده. په ورځني ژوند کې به يې له بې ايمانۍ ځنې کار هم اخيست او د زړه له اخلاصه به يې عبادت هم کاوه.

هغه د ارباب الانواعو له دې ضد او نقيضو چارو په نا‌آرامۍ کې اخته شوی و. ده د ښو او بدو لپاره خپل ځان مرکز وټاکه. ده دا په خپله نه وو اختيار کړي، بلکې کله کله به په ده باندې يو ځانګړی حالت راته. دې اکر (حالت) به نوموړی له ځينو کارونو څخه لاس په سر کاوه. ده دا هم تجربه کړي وو چې د دغه کار په نه کولو سره دی خوښي ترلاسه کوي او پايله يې هم ښه وي. هغه پر دې هم عقيده پيدا کړې وه چې له کار څخه د ده په ايسارولو کې د ارباب الانواعو لاسونه دي. د همدې لپاره يې پر دې خبرو باور کاوه. هغه پوهېده چې خدايان نوموړی د ښو کارونو لور ته بيايي، نو د دوی د حکمونو منل په کار دي. د ده دې اکر د ارباب الانواعو په اړه د ده دريځ بدل کړ. سقراط دې پايلې ته ورسېد چې ارباب الانواع د وګړو پام ساتي. ټول خدايان ښه دي. د کينه ګرو، دروغجنو، زيان رسوونکو او قهرېدلو خدايانو کيسې مازې چټيات او او اپلتې دي. پر ارباب الانواعو د ايمان راوړلو موخه هم همدا ده چې انسان په خپله هم نېکه لاره خپله کړي. د دوی د شکل او صورت په اړه د خلکو اندونه او نظريات هم ورته بې ځايه ښکاره شول.

ورو، ورو پوه شو چې د ارباب الانواعو او ښېګڼو په اړه د ده او نورو په اندونو کې توپير شته. همدغه توپير کرار، کرار شدت وموند او له امله يې خلکو له ده سره مينه يا کرکه پيدا کړه.

***

د ایکرو پولس سوځیدلي عبادتځای د اتن ټوله ښکلا زیانمنه کړې وه. په یوه داسې زمانه کې چې له یو ولس سره د فکر کولو پوهه نه وه، په اتن کې فلسفیان زیږېدل. د یوناني جمهوریت د سیاسي لارښوونکو د لومړي صف رهبر، فارقلیس د لا مختګ په پار ایران ته مخ کړ. دوی ډېر کله له ایرانیانو څخه په عذاب وو. د ایرانیانو د یرغل د څواب لپاره یې ډېرې پیسې راټولې کړې وې؛ خو اوس یې پتیلې وه چې د عبادتځایونو پر بیارغونې یې ولګوي. ده دا کار پیل کړی و؛ مګر د ګاونډیانو کینې، د جګړې اور بل کړ.

د سپاهیانو ښار، سپارتا هم د اتن ورځ تر بلې ډېرېدونکی څواک نه شو زغملی. ځکه اتن په دفاع او مخنیوي کې مخکښ نه و، بلکې ورو، ورو د یوې منظمې بحري پاچاهۍ مرکز جوړېده.

له دې کینې څخه په راتلونکي کې د یوې سترې جګړې وېره کېده. د خلکو په ذهنونو کې د جګړې د خطر زنګونه ټنګېدل. د تنکي ځوان، سقراط په زړه کې داسې جذبه او ولوله پیدا شوې وه چې هغه او د هغه ملګري کرایټو په پوځ کې دنده واخیسته. دنده یې څه واخیسته؛ خو بس نومونه یې ولیکل چې که سپارتیانو پر دوی یرغل

راوړ، نو دوی به هم د اتن له سرتېرو سره اوږه په اوږه جنګېږي. دوی ته اړینې جنګي زده کړې ورکړل شوې.

څو کاله وروسته هغه وخت راورسېد، د کومې چې اندېښنه وه. د سپارټا پاچا جګړې ته تیلی ورته کړ. د اتن ځوان سرتېري، جنرال وسیډیز تر مشرۍ لاندې له دودیزو وسلو سره، د ارباب الانواعو او الهو په ملتیا او د ډول او نغارو په شور کې له اتن ښار څخه ووتل. بوډا ډېر توروونکي خپل زوی پر شا وډباوه: ((بچیه! ستا پیاوړې متې د سپارټا د ورمېږ تاوولو لپاره بس دي!))

دې منظم پوځ له اتن څخه د دوه ورځو په واټن کې په یوې درې کې دېره واچوله. داسې اټکل کېده چې د سپارټا سرتېري به پر یونان د یرغل لپاره له دې لارې څخه تېرېږي. هغوی به همدلته د تورو د باران لاندې راوستل شي. دا ځای له دې امله هم غوره و چې دا سیمه د دوی د یوې خواخوږې قبیلې، مېګرا په ولکه کې وه. دلته اتنیانو ته د هېڅ ډول خطرې وېره نه وه.

د ځنګل په غاړو کې پیره داران ودرول شول چې چیغو یې د شپې د چوپتیا سینه څیروله او تر ډېره ځایه رارسېدې.

څو شپې یې د اور رڼا ته ډوډۍ وخوړه. سپارټي لښکریان په سهوه کې هم دې لور ته رانغلل.

پیره دارانو به د شپې له خوا پیره کوله او د ورځې له خوا به یې له جنرال وسیډیز څخه شکایت کاوه چې د سیمې پر خوندیتوب سربېره، دومره کلکې څارنې ته څه اړتیا ده؟

نن پینځمه شپه وه. هغه د اور د لمبو تپ ته ناست و. کرایټو یې ترڅنګ ناست و. اتن یې په زړه ګرځېده. د ده پر شونډو هم له جنرال څخه شکایت راغی: ((خدای خبر د جنرال څنګه ذهن دی؟ موږ به یې وړاندې بیولي وو. په جګړې به مو خبره پای ته رسولې وه؛ مګر هغه خو په دره کې داسې ډډه وهلې، ته به وایې چې میاشت تېروي. خدای پوی شه چې بیا به کله د اتن څېره ووینو؟))

- مړه...! تر اوسه پینځه ورځې نه دي تېرې شوي او ته د اتن تلو ته ناکراره شوې؟
- پینځه ورځې ډېر وخت دی. که دښمنانو یرغل کولی، نو اوس به وخته راغلي وای.
- ته سپارتیان نه پېژنې. هغوی ډېر هوښیار خلک دي. هېڅ شک نشته چې هغوی زموږ له ناخبرۍ څخه په ګټې، غلي تېر شي او پر اتن یرغل یوسي. زموږ ملګري پر همدې خبره فکر کوي.

سقراط د طنز په ژبه وویل: ښه... زموږ ملګري فکر هم کوي هن...؟ او له دې سره ټولو په لوړ آواز وخندل.

کرایټو تر لږ ځنډ وروسته وویل: سقراطه تا ته په یاد دي. موږ اتلس کلن وو چې د روزنې لپاره غوښتل شوي وو او موږ ته یې سوګند راکړی و.

- ما خو له سوګند څخه سرغړونه نه ده کړې. زه اوس هم د خپلو وسلو بې احترامي نه کوم. زه به د انسانانو او ارباب الانواعو لپاره جنګېږم. ارباب الانواع به په دې خبره شاهدان وي.

ټولو له سقراط څخه ملاتړ وښود او د سوګند کلمې یې په غبرګه تکرار کړې.

څو شېبې چوپتیا خوره شوه. سقراط ته تر دې بل لوی تکلیف نه و چې څو کسان دې ناست وي او چوپتیا خوره شي. یوه بله پوښتنه یې راولاړه کړه: ما پرون تاسو ته ویلي وو چې له پخواني حالت څخه به هېواد ښه کوم او بیا به مرم.

- هو ویلي دې وو.

- آیا تاسو ویلی شئ چې له (ښه) څخه موخه څه ده؟

د ارسټن په نوم یو بل پوځي راوړاندې شو او په ناپوهېدلي ډول یې سقراط وننګاوه: دا خو سخته پوښتنه نه ده!

- خیر ووایه چې له ښه حالت څخه زما موخه څه ده؟

- د دې معنا ده، ښې ودانۍ، ډېر ځاروي او ښې وسلې.

سقراط وویل: هېڅکله نه! ښار هغه وخت جوړېږي چې ډېر پیاوړی وي. ښاریان یې نه یوازې دا چې ډېر کار وکړي، له زړه نه کار وکړي.

ارسطو ځواب ورکړ: زما مطلب هم همدا و.

- که ستا مطلب هم همدا و؛ نو راځه چې پر پوښتنې له بلې زاویې فکر وکړو. ستا په اند څوک ښه دی، زړور که بې زړه؟

- ښکاره خبره ده چې له بې زړه څخه زړور غوره دی.

- د یو چا زړورتوب او بې زړه توب څنګه معلومولی شو؟

- د دې تله، د جګړې ډګر دی.

- که دښمن بریالی شي؛ نو یو پوځي هم د رحم خیرات غوښتلی شي او هم له ډګر څخه په تېښته ځان ژغورلی شي.

ارسطو په جذبه کې راغی او ویې ویل: دا د بزدله (ډارن ) خلکو کار دی.

- آیا دا رښتیا نه دي چې زړور سړی یوازې یو کارکولی شي او هغه دا چې د خپل قومندان حکم ومني او وړاندې لاړ شي. ښایي په دې کې د هغه خپله خوښه شامله نه وي.

ارسټن نه پوهېده چې سقراط ولې دا پوښتنې کوي او دی په کوم جال کې راګېرول غواړي؟ له مجبورۍ یې ومنله چې زړور سړی وړاندې ځي او نه شا ته کیږي.

سقراط اوږې پورته واچولې: بیا خو نو تا په خپله ومنله چې د زړور په پرتله، بې زړه چې هر څه وغواړي، کولی یې شي.

- همدا سم دی.

- لږ وړاندې خو ته زما له دې خبرې سره موافق وې چې ښار هغه مهال ښه او بهتر وي چې خلک هر کار په خپله خوښه وکړي.

ارسټن ټکنی شو: نو....

سقراط ترې خبره ونیوله: نو دا چې د خپلې خوښې کار، بې زړه کوي، نه زړور. لومړی د خپلې خوښې لاره غوره کوي او دویم د خپل آمر قوماندې پورې تړلی وي. اوس ووایه چې څوک ښه دی، د خپلې خوښې کارکوونکی یا د اطاعت پابند؟

- سقراطه! آخر ته څه ویل غواړې؟

- زه غواړم دا ووایم چې له خپلې خوښې سره سم کار کول د غوره والي معیار او ثبوت نه شي کېدی.

خبرې تر همدې ځایه رسېدلې وې. ښایي سقراط به نور هم څه ویل چې په تروږمۍ کې څوک راروان ښکاره شو. دا هم کېدی شو چې هغه دې د دښمن کوم څارګر (جاسوس) وي. ټولو وسلو ته لاس کړ او د راروان سړي په انتظار کې شول.

کله چې هغه نږدې شو؛ نو کرایټو له تګ څخه وپېژنده.

- وی... دا خو سکلیز دی. دی هم لکه چې یواځیتوب چیچلی دی چې داسې له ځان سره په خبرو لګیا راراوان دی!

- ملګرو! زه خبرو ته نه، بلکې یو مهم خبر رسولو ته راغلی یم.

ارسټېن شکر وویست چې له سقراط څخه خلاص شو. کرایټو له وړاندې ویلي وو چې په خبرو کې څوک له سقراط څخه نه شي مخکې کېدلی. ده دا ننداره بیا هم ولیده.

کرایټو نېغ کښېناست: د څه شي خبر؟

- په مېګرا کې خلکو زموږ د پوځ پر وړاندې بغاوت کړی دی. ټول هېواد باغي شوی دی. باغیانو د اتن سړک هم په خپل ولکه کې راوستی دی.

- مېګرا خو زموږ ملګرې وه. هغه ته خو دویم اتن ویل کېده. هلته هم...؟

- زه همدا اوس د جنرال وسیډیز له خوا څخه راغلم.

هغـه داسـې خـبر راوړی و چـې لـه همـدا اوسـه د سـهار چمتـووالی پیـل شـو. دا د سـقراط لـومړۍ جګړه وه چـې څـو سـاعته وروسته پیلېدونکې وه.

هغـه ویـده شـوی کلـه و چـې لا پـاڅي! د پیغـام راوړونکـي پیغام سم و. له لمر خاته سره حکم وشو او د کوچېدا تیاری پیل شو.

هغوی په ځنګل کې غلي، غلي روان وو. په ډېر احتیاط سره یې ګامونه اخیستل، ځکه له هر لـور څخـه د دښمن د رانازلېـدو وېره اټکل کېدی شوه.

له یوې لورې غونډۍ څخه په راکوزېدو، جنرال خپلو پیروانو ته د لاس په اشاره د ودرېدو امر وکړ. هغه دا پرېکړه کوله چې کوم لور ته لاړ شي؟ له دې ځایه دوه لارې بېلېدې. ښۍ لاره له مېګرا څخه اتن ته تللې وه، مګر دمخه خبر راغلی و چې پر دې سړک باغیانو قبضه کړې ده. دا خبر هم راغلی و چې د سپارټا پوځیان له کومې بلې لارې د اتـن پـر لـور خوځېـدلي دي. دوی تـه اوس پـه کـار وو چـې ژر تـر ژره ځانونه اتن ته ورسوي. په کار وه چې له باغیانو سره له نښتې پرته کینه لاره غوره شي. جـنرال لـه خپلـو ملګـرو سره تر سلا، مشورې وروسـته کېڼ لور ته تاو شو.

کیڼ لور ته غځېدلې لاره، له بحر سره نږدې ختمه شوه. دوی اوس د بحر په غاړه، غاړه تلل. دا لاره ډېره کنډوکپره وه او ډېر ځایه یې پښې وښوییدې.

په لاره کې څو کروندې مخې ته راغلې. څو کلي هم ولیدل شول. له ډېرو ختو او چکړو څخه تېر شول او بالاخره یوې ورانې کلا ته ورسېدل چېرې چې دوی خپله ستړیا لرې کولی شوه.

د اتن استوګن هم د خپلو سرتېرو له احواله نه وو خبر؛ که خبر وای چې دوی په داسې ستونزې کې راګیر دي؛ نو لږ تر لږه یوه بېړۍ خو به یې ورلېږلې وه. دا مهال دوی د دې طمع هم نه شوای کولی!

تر لرې پورې لوړ، لوړ غرونه ښکارېدل. له دې غرو څخه له تېرېدو وروسته، دوی اتن ته ورسېدل. د دې غرو او د دې ځای د استوګنو په اړه وېروونکې کیسې مشهورې وې. داسې ویل کېدل چې دلته د شرابو د رب النوع عبادت کوونکي اوسیږي. د دې ځای ښځو په خپلو لاسو ځنګلي ځناور څیرول او ساتل. د دې غرونو په کږلېچونو کې هم د ورکېدو وېره وه. د کوم ځایي سړي له لارښوونې پرته، د دې لارې لنډول، ناشوني و. د کوم سړي د رضا کولو لپاره سقراط یوه نږدې کلي ته واستول شو. د سقراط ټاکل کېدل، ښکاره و او هغه دا چې نوموړی خبر لوڅ و.

سقراط له دې کلي څخه د پیتین په نوم یو سړی راوست.

هغه د دې کلي له کوڅې، کوڅې څخه خبر و؛ مګر هغه یوازې لارښود و. د لارې خنډونه یې نه شو لرې کولی. پر غونډېو ختل، خورا ستونزمن و. په اغزنو بوټو او خادو کې یې پښې نښتې. د پوځیانو له پښو سره غټې، غټې ډبرې لاندې ښوییدلې. شا ته روان کسان له دوی څخه نه شول خوندي کېدلی. له دې ډبرو سره څو تنه ټپیان شول. یو ځای کې څو غریبز خلک د دوی پر وړاندې مقابلې ته راغلل؛ مګر له مسلکي پوځیانو سره د دوی مقابله ناشونې وه. په هر حال، لاره یې ووهله.

د غره له یوه کړلېچ څخه د راکوزیدو پر مهال چا چغه کړه:

اتن!... هاغه دی اتن...! مورږ ورسېدو...! هاغه دی سیند!

په دې پسې د یو بل چا ناره پورته شوه: هغه وګورئ! په لویدیځ ډګر کې نېزې پړکیږي. لکه چې کوم پوځي دی.

د سپارتا خلکو د اتن مخامخ سنګر نیولی و. شپې مهال د هغوی په دېرې کې بل اور ښه صفا ښکاره کېده. ددې مطلب دا و چې سبا به هرو، مرو جګړه پېښیږي.

بله ورځ چمتو والی بشپړ شوی و؛ مګر سپارتیانو لومړیتوب ونه کړ. بله ورځ هم تېره شوه او په دریمه ورځ ټولو ولیدل چې سپارتیانو خپل پنډونه او خېمې وتړلې او روان شول.

هېڅـوک نـه پوهېـده. خلکـو یـوازې همـدومره ولیـدل چـې فـارقلیس لـه اتـن څخـه ووت او د سـپارتیانو لـور تـه ورغـی. پـه بېرتـه راګرځېدو يې سپارتیانو بار او بسترې وتړلې.

دا راز،بیا ډېر وروسته معلوم شو چې فارقلیس د خورا ډېرو امتیازونو په بدل کې، نوموړي له یرغل څخه په شا کړي وو.

د سقراط لپاره دا جګړه مخکې لـه ګرمېدو سړه شـوه؛ ولې وروسته يې په څو جګړو کې برخه واخیسته او خپله زړورتیا يې په کې ښکاره کړه.

د سپارتیانو له ستنېدو سره په اتن کې د سولې بله دوره پیل شوه. نانوایانو خپلې هټۍ پرانستې، د پښانو (آهنګرانو)په بټیو کې د اورونو رڼا او د څټکونو شور پیدا شو. په لوبغالو کې لوبغاړي راټول شول او اتن پخوانی اتن شو.

دود داسـې و چـې یـوازې د جګـړ ې پـر مهـال بـه پوځیـان راغونښتل کېدل. په نورو ورځـو کې به هر څوک په خپلو چارو کې بوخت و. سقراط هم په همدې ورځو کې په کور ناست و.

د سـولې لـه راتلـو سره فـارقلیس تـه خپلـې ارادې پـه زړه وګرځېـدې. هغـه د اېکروپولس پـه سـهېل کـې د اېتنیـا د عبادتځـای د رغولو هوډ کړی و چې دا وخت د سپارتا بغاوت پیل شو. له دې سره جوخت اتن له ځوانانو او کاریګرو څخه تش شو. اوس چې د جګړې

وریځې په راټولېدو وې، بیا ځل یې د کاریګرو په راټولولو پیل وکړ. دا ځنګه کېدی شو چې په ښار کې دې کومه رغنیزه پروژه پیل وي او د سوفرونس کس په خپر وتلی ډېر تورونکی دې ونه غوښتل شي! شاهي درباریان یې خوا ته ورغلل. کوم فرمایش چې ده ته ورکړ شو، له یوې خوا ستونزمن و او له بلې خوا د ده هم ها پخوانۍ مزه نه وه پاتې. دی اوس زوړ و؛ خو سقراط هم ځوان و او هم پیاوړی. سوفرونس د همده په اسره دومره لویه اجاره ونیوله.

ده باید د عبادتځای ستنې رغولې وای. د سقراط دوی د کور مخې ته د بېوزله کاریګرو کتار جوړ و. ټول خبر شوي وو چې سوفرونس دا کار اجاره نیولی او هرومرو به یې کاریګرو او غلامانو ته اړتیا پیدا کیږي. سوفرونس کس دهر کاریګر وړتیا ازمویله او پر دنده یې ګماره.

کار پیل شو.د مرمرو د درنو ډبرو ډکې ګاډۍ راچلول کېدې او تشېدې. دا ډبرې به دومره درنې وې چې کاریګرو په ډېرې خوارۍ راکوزولې. په میاشتو، میاشتو د ډبرو پرېکولو کار روان و. سقراط د دې ټولو کارونو ځارنه کوله.

کله چې ستنې ودرېدې، سقراط بره پر خوازې وخوت چې د تیږو پورتنۍ برخې وتوږي او له لاندنۍ برخې سره یې برابرې کړي.

سقراط به په دې چاره کې ساعتونه اړول. له لوړې څخه به یې ډېره ښکلې منظره جوړوله. د لوبو میدان ښه سپین ښکارېده. د بحر غاړه هم ښکارېده چېرې چې به هر وخت بادباني بېړۍ ولاړې وې. هغه غونډۍ هم ښکارېدې چې د سنګ مرمرو کانونه په کې وو. هغه غر هم لیدل کېده چې د شاتو د مچیو خزانه وه.

د سقراط پر مخ د ننداړو ور پرانیستل شوی و. که د ده پر ځای بل څوک وای؛ نو کلونه، کلونه به یې هم ترې زړه نه وای تور شوی؛ مګر د ده د مطالعې ځای یوازې انسان و. له انسانانو پرته هیڅ منظره ورته په زړه پورې نه وه.

نوموړی هله خوښ شو چې له کاریګرو او ملګرو سره د عبادتځای د ټغر د خوړولو وخت راورسېد. دا ګڼه، ګوڼه او رش ده ته ډېر په زړې پورې ځکه و چې د ده مطلب په کې نغښتی و.

فارقلیس چې د اتن مشر قومندان و، هره ورځ د کار کتنې لپاره راته. له دې پرته ګڼ ښاریان هم هره ورځ سیل ته راتلل. په دوی کې به د اوچتو کورنیو هغه ښځې هم وې چې داسې ګڼې، ګوڼې ته هېڅکله نه راتلې؛ مګر اوس خبره د عبادتځای او د اتن د ښکلا وه.

یوه ورځ سقراط پر خپل کار بوخت و چې فارقلیس ورغی. له نوموړي سره یو بوډا هم و. سقراط د اتن ټول خلک پېژندل؛ خو دا بوډا یې هېڅکله هم نه و لیدلی او هغه هم له فارقلیس سره . له دې

دا معلومېده چې هغه کوم عادي سړی نه و؛ مګر دا څوک کېدی شو...؟ يوازې همدومره پته ولګېده چې هغه د کوچنۍ آسيا استوګن و او اوسمهال فارقليس رابللی و.

دا يې پوره پېژندګلوي نه وه. دا پوښتنه بيا هم په خپل ځای پاتې کېده چې هغه څوک دی؟ سقراط له ده سره د خبرو موقع نه وه موندلې؛ خو زړه يې د هغه پر لور ميلان کاوه. ځينو نورو به د ده په اړه نورې خبرې کولې، مثلاً دا چې نوموړی بودا د فيثاغورث په نوم مشهور دی. په هندوستان کې يې له ګوتم بدهـ سره هم ليدلي دي. هغه بېله ډله او د ژوند بېله فلسفه لري. دا او دې ته ورته نورې خبرې کېدې؛ خو دا هر څه سقراط ته بې ګټې او غيرمعقولې ښکارېدې.

لږې ورځې نه وې تېرې چې د اتن په بازارونو کې د فيثاغورث او د ده د نظرونو هنګامه خوره شوه. کله چې فيثاغورث دا نظر وړاندې کړ چې په آسمان کې تيږه ده. رب النوع نشته؛ نو پر وړاندې يې د مخالفتونو توپان راپورته شو.

فيثاغورث له ډېرو کلو راهيسې د آسمان پر مطالعې بوخت و. بالاخره دې پايلې ته ورسېد چې لمر کوم رب النوع نه، بلکې د ځلانده کېمياوي عنصر يوه ټوټه ده. ده پر دې هم بسنه ونه کړه. دا يې هم وويل چې سپوږمۍ له خټو جوړه ده. دا له ځانه رڼا نه لري او لمر پرې د خپلې روښنايۍ انعکاس غورځوي چې له امله يې دا ځليږي. په

سپوږمۍ کې غرونه او درې دي او ښايي، خلک هم په کې مېشت وي.

داسې اټکل کېده چې گرد يونان دې د فيثاغورث پر وړاندې راپورته شي. په دې مخالفت کې په ځانگړي توگه هغه خلک شامل وو، چې د فارقليس دښمنان وو. دوی به ويل: ((دا سړی (فيثاغورث) زموږ د ارباب الانواعو سپکاوی کوي او فارقليس ورته ملگری وايي!)) هم د مذهب په کړۍ کې ايسار خلک د فيثاغورث دښمنان شول او هم سياسيون.

د اېکروپولس د عبادتځايونو د ودانيو چارې، ښې په زور کې روانې وې؛ مگر اوس د کار پر ځای خبرې ډېرې کېدې. دلته راټولېدونکو خلکو دا خبره ډنگوله چې تر کومې فيثاغورث ته د مرگ سزا نه وي ورکړل شوې، تر هغې خدای پر دې ښار نه مهربانه کيږي؛ ولوکه سل زره داسې عبادتځايونه ورغول شي.

سقراط د خپل عادت پر خلاف په دې خبره کې چوپ و. د ده ملگري سخت په اندېښنه کې وو چې ولې نوموړی خپل نظر نه په ډاگه کوي؟

يـوه ورځ د عبادتځـای يـو غيـب دان (د پټـو خـبرو رازدار) سقراط ته لاړ او په دې هکله يې د ده نظر وپوښت:

- سقراطه! آیا ته هم همداسې فکر کوې چې لمر کوم رب النوع نه، بلکې د کېمیاوي عنصر یوه ټوټه ده؟

- زه هېڅ پرېکړې ته نه یم رسېدلی.

- دلته پرېکړې ته د رسېدو څه خبره ده. آیا زموږ ټول مشران دروغجن وو؟

- ښایي فیثاغورث دروغجن وي؛ خو موږ ته نه دي په کار چې هره نوې خبره دومره ژر دروغه وګڼو. فیثاغورث ساینسپوه دی. هغه یو نظر ورکړی دی. د ده د غلط ثابتولو لپاره یو بل ساینسپوه ته اړتیا ده. د ده په دروغولو عام خلک ښه نه ښکاري. زه فکر کوم چې د ده علمي نظرونه د سیاسي جګړو پر لور ټېل وهل کیږي او دا غلط کار دی.

- ما ته، ته هم د ارباب الانواعو پر خلاف ښکارې.

سقراط له حوصلې کار واخیست: ((زه اوس د حقیقت په لټه کې یم؛ ولې پوهېږم چې دا ستونزمن کار دی.))

- آیا رب النوع حقیقت نه لري؟

- حقیقت هغه وي چې ثابت شي.

له دې سره غیب دان په غوسه شو: ((ته لګیا اوسه، ثابتوه یې! ما چې څه وکړل، کوم به یې!)) له دې سره پاڅېد او روان شو.

د شپې د سقراط ځينې ملګري د ده خوا ته ورغلل او د ډيوې رڼا ته کښېناستل. سوفرونس کس هم د دوی خوا ته ورغی او کښېناست. ځو شېبې د عبادتځايونو د رغونې بحث و. بيا د فيثاغورث خبره رامخ ته شوه. د سقراط رويه اوس هم د نومړي لپاره له خواخوږۍ ډکه وه؛ خو سوفرونس کس چې پخوانيو عقيدو پسې روان و، وويل چې که فيثاغورث دلته نه وای راغلی؛ نو د اتن د خلکو ژوند به نور هم له هوسايۍ ډک شوی و.

خبره همدې ځای ته رسېدلې وه چې ډايوان راغی. ډايوان، د غيب دان خپل و او له سقراط سره يې د ودانۍ په ستنو کې کار کاوه. نوموړی داسې راننوت، لکه کومه اطلاع چې ورسره وي. په رښتيا اطلاع هم ورسره وه. ده وويل: ((تر سبا پورې به د اتن هر وګړی خوشاله شي؛ ځکه د ارباب الانواعو دښمن به ډېر ژر خپله سزا ووينې!))

سقراط او نورو ناستو کسانو ته د دې اړتيا نه وه چې د ارباب الانواعو د دښمن په اړه ګروېږنې وکړي؛ ولې سقراط د نورو جزياتو غوښتونکی شو: ((تر سبا به څه کيږي؟))

- د ارباب الانواعو وفادار خلک يوځای شوي دي. هغوی فارقليس هم خپل هدف ګرځولی دی. يو نوی قانون منظوريږي. دا د هغه چا پر خلاف چې په مذهب

باندې عمل نه کوي او د آسماني څیزونو په اړه نظرونه ورکوي. داسې به څوک وي چې د دې قانون ملاتړ ونه کړي؟ قانون به ومنل شي. د همدې قانون پر مټ به فیثاغورث محکمې ته راکښل شي.

په بله ورځ د خلکو له هیلو سره سم دا نوی قانون ومنل شو. د پلان له مخې فیثاغورث هم محکمې ته راکښل شو. پر ده یې د الحاد ټاپه ولګوله. د ده جرم د مرګ سزا هم کېدی شوه؛ خو په اتن کې ګډې، وډې ناري پورته کېدې. ډېر شمېرخلک د ده پر خلاف وو؛ خو څه نور یې په پلوی ودرېدل. له همدې امله د مرګ له سزا څخه وژغورل شو او له ښار څخه وشړل شو. بېرته کوچنۍ آسیا ته راغی.

سقراط له فیثاغورث سره مازې لیدلي وو. له نوموړي سره پوره نه و آشنا شوی؛ خو د ده تر تلو ورسته، ده یې کمی احساساوه. دی پوهېده چې کومه پوهه دی لټوي، هغه له هاغه سړي سره وه، کوم چې دوی هېڅ ارزښت ورنه کړ. د فیثاغورث یوه خبره یې ډېره یادېدله. هغه ویلي وو: زه شهرت او آرام لپاره نه، بلکې د لمر، سپوږمۍ او ځمکې د مطالعې لپاره زېږېدلی یم.

ده دا خبره، د علم پر لور د سقراط د پام اړونې لپاره کوله. دی په دې خبره پوخ باوري شو چې حقیقت ته د رسېدو لپاره یوازې په

فکر کار نه کيږي، بلکې د دې لپاره مطالعې او څېړنې ته اړتيا ده. ده د نړۍ د نظام په اړه د پوهانو د ويناوو مطالعه پيل کړه.

هغه مطالعه کوله. د لوبغالي د جامو بدلولو په کوټه کې به يې د راټولو شوو پوهانو خبرې په غور اورېدې. په دې پوهانو کې د فيثاغورث يو شاگرد، لاوس هم و. دې سړي ته وروسته د سقراط استاد هم وويل شو. لوبغالي ته ځينې داسې خلک اوس هم راتلل چې تر اوسه يې له هغه سره اړيکې لرلې او د نوموړي د نظرونو د رازونو ساتونکي وو. سقراط له هغو سره ملگرتيا پيدا کړه.

څومره چې به د ده پوهه ډېرېده، ورسره به د ده په شهرت کې هم اضافه والى راتلو. اوس دى د اتن په فلسفيانو کې حسابېده. که کوم زده کوونکى به ښار ته راته، نو ناشونې به وه چې د سقراط له ليدو پرته لاړ شي. رييسانو او آمرانو به خپلو کورونو ته غوښته. ده د فيثاغورث انجام ليدلى و؛ نو ځکه خو به يې په ډېر احتياط سره خبرې کولې.

په دې ورځو کې نړۍ او د نړۍ خلقت ده لپاره ځانگړې سکالو (موضوع) گرځېدلې وه. د دې غوټې د خلاصولو لپاره، د ساينس پوهانو نظرياتو له ده سره مرسته کولى شوه؛ خو دى په هغوى هم ډاډه نه و.

یوه ورځ د یوه ملک د ډوډۍ په بلنه هغه کره ورغی. هلته یې د کاغذونو (*یو ډول خاص کاغذ، ننۍ کاغذ نه*) ګېډۍ (بنډلونه) ولیدې. معلومه شوه چې دا د فیثاغورث کتاب دی او همدا اوس، اوس اتن ته رارسېدلی دی. سقراط وویل: ((د اتن والو ناپوهۍ دا سرې له ښاره وشړه. په داسې حال کې چې دا سړی تر اوسه په فکر او عمل کې بوخت دی.)) ملک ځواب ورکړ: ((هو! او دا کتاب د دې خبرې ګواه دی.)) سقراط وپوښتل: ((په دې کتاب کې کومه نوې خبره شته؟))

- فیثاغورث یوه نوې خبره کړې ده. هغه لیکي: په هر څیز کې د نورو څیزونو توکي (اجزا) ګډ دي؛ خو د ذهن ځواک نامحدود دی. په دې کې بل هېڅ شی شامل نه دی. بشپړ واک لري. دی پر ټولو ساه کښو، هغه که واړه دي که غټ، واکمني کوي. له دې پرته نورې یې هم ډېرې خبرې لیکلي دي.
- د دې مطلب دا دی چې فیثاغورث د هرې پوښتنې ځواب موندلی دی. زه هم همداسې فکر کوم. همدا ذهانت مطلق دی چې پر ټولې نړۍ واکمني کوي. ښاغلیه! تاسو دا کتاب ما ته راکوئ چې ویې لولم؟

- ولې نه! رښتیا خو دا ده چې دا کتاب ستا لپاره لیکل شوی دی.

سقراط د کاغذونو له ګېډيو سره راستون شو.

دا مهال د لیکلو طریقه ډېره پېچلې وه. یوه کلمه له بلې سره تړلې وه. پر دې سربېره يې ژر، ژر کتاب ولوست. کتاب چې پای ته ورسېد، نو په باطن کې يې يو ډول روښنايي احساس کړه؛ خو لږ نهیلی هم شو. د ده له بې شمېره پوښتنو څخه، اوس هم ډېرې بې ځوابه وې. فیثاغورث هم د نورو په څېر د نړۍ د جوړښت نظریه د خاورې، هوا، اوبو او اور د نظریې پر بنسټ ورکړې وه. یوازې د دې عناصرو د مرکب د بېلولو او د شیانو د حرکت لپاره يې د ذهن یادونه کړې وه.

سقراط کتاب بېرته خپل خاوند ته وسپاره؛ خو سخت خواشینی و. پر ساینس پوهانو يې باور ختم شو. د ده په اند، هغوی خو په دې پوهېږي چې نړۍ څنګه رامنځته شوه؛ مګر دا ځواب ورسره نشته چې ولې داسې وشول؟ دا (ولې) مادي پورې نه، بلکې د ذهن انتها پورې اړونده وه. همدا هغه څيز دی چې انسان ورته ښېګڼه وايي: د دې (ولې) ځواب باید زه پخپله ورکړم. ساینس پوهان تر دې ډېره زما مرسته نه شي کولی. هغوی خو یوازې هغه شیان مطالعه کوي چې محسوسیږي. دی په دې هم پوه شو چې د لمر او سپوږمۍ

څېړنه بې ځایه ده. د انساني جسم مطالعه بې گټې ده: ((زه خو باید چې د انسان له سوچ او د ده له هیلو او ارزوگانو سره سر او کار ولرم.))

نوموړی د فلسفې پر لار چوپ روان شو. د ژوند همدې مقصد پر پوهېدو یې څو کلونه تېر کړل او بالاخره یې د سنگ تراشۍ دنده پرېښوده. په همدې موده کې سوفرونس کس هم وفات شو او خدای د مور له اسرې هم بې برخې کړ.

د ده باور ورځ تر بلې په دې پخېده چې رب النوع د ده مل دی. څو کاله وروسته یې پوخ یقین راغی چې دی د ارباب الانواعو له کوم پیغام سره راغلی دی.

ده به بازارونو کې تل دا خبره کوله: ((هوښیارو الهو ما ته د پوهې د پلټنې امر کړی دی.))

د ده په همدې پیغام،گڼ ځوانان پرې راتاو شول. ښکلو تنکیو ځوانانو به هېڅکله دی یوازې نه پرېښوده. ښار، بازار او لوبغالي کې به ورسره وو. دی چې به چېرې هم ته، تنکي ځوانان به یې مله وو.

ده خو په خپله دا خبره کوله چې ارباب الانواعو ده ته د علم د زده کړې حکم کړی دی؛ خو شاگردانو یې دعوه کوله چې سقراط له گردو انسانانو څخه ډېر پوه دی.

په دې شاګردانو کې یو هم کرېفن و چې د ده خورا جذباتي مرید و او هر وخت به له ده سره اوسېده. یو ځل هغه (ډلفي)ته لاړ چېرې چې د (اپالو) معبد و. په دې معبد کې یوه عبادت کوونکې کښېناستله. خلکو به له دې څخه پوښتنې کولې او هغې ځوابونه ورکول. داسې انګېرل کېده چې نوموړې ته دا ځوابونه اپالو رب النوع ښوولي دي. ټوله ورځ ترې رنګا، رنګ پوښتنې کېدې.

د دې عبادت کوونکې په اړه دا هم ویل کېده چې پخوا وختونه د معبد په ځای کې یو پېري هر وخت چکرې وهلې. اپالو هغه مړ کړ او دلته یې دا عبادت کوونکې کښېنوله. خلکو به له عبادت کوونکې څخه د خپلو پوښتنو ځوابونه غوښتل.

کرېفن، مندر (معبد) ته له نورو دمخه څه شېبه انتظار وویست. کله چې یې وار راغی، نذر یې وړاندې کړ. له مرمرینو دالانونو څخه په تېرېدو، یو تیاره ځای ته ورسېد چېرې چې د ځمکې مبارکه تیږه ایښې وه.

کرېفن پر یوه کاغذ خپله پوښتنه ولیکله: ((آیا په اتن کې له سقراط څخه بل هوښیار سړی شته؟)) ځواب ورته راغی: ((له ده څخه بل هوښیار نشته.))

دا داسې ځواب و چې کرېفن د لږې شېبې نور ایسارېدو صبر ونه شو کړای. له غرونو او لارو څخه په راتېرېدو بېرته اتن ته

وگرځېد. کله چې یې د اپالو خبره ځایي خلکو ته وکړه؛ نو دوه ډوله گنگوسې پورته شوې. ځینو ویل چې د رب النوع خبرې رښتیا دي؛ خو ځینو نورو د سقراط په مخالفت کې عبادت کوونکې وغندله: ((عبادت کوونکې ته به یې رشوت ورکړی وي. ځواب به بل شی وي او ده به دروغ ویلي وي.)) ځینو نورو خو لا ویل چې کرېفن دا خبرې له ځانه جوړې کړي دي. سقراط په عاجزۍ وویل: ((رب النوع مازې د بېلگې په توگه زما نوم یاد کړی دی. هغه دې لپاره چې زه جاهل یم. زه هم پوهېږم چې جاهل یم. همدې لپاره غیبي خدای په حقیقت کې دا ویلي چې هر څوک له خپل جهالت څخه خبر وي، هماغه پوه او هوښیار دی.))

په یواځیتوب کې یې کرېفن ته وویل: ((رب النوع وایي چې ما ته دې کوم کار وسپارل شي. زه باید د هغه حکم ځمکې ته ونه غورځوم.))

- کوم کار...؟

- د رښتیاوو له پلټنې پرته، نور څه کار کېدی شي؟

د سقراط په زړه کې لویي نه وه پیدا شوې؛ خو دا خبره یې زړه ته پرېوتې وه چې رب النوع خوښ شوی دی. د نږدېوالي همدې احساس، د ده په ژوند کې ډېر بدلونونه راوستل.

یو ځل بیا په اتن کې د جګړې اور بل شو. پوځیان شمال لور ته وړاندې شول او پوټیډیا یې محاصره کړه. سقراط هم په دې جګړې کې ګډون درلود. تر دې دمخه یې هم په څو جګړو کې د خپلې زړورتیا بریالۍ زورآزموینه کړې وه؛ خو په دې جګړ ه کې یې په بېل روح ونډه واخیسته. د ده زړورتیا ښووله چې هغه له عامو وګړو سره توپیر لري؛ رب النوع په ربښتیا هم له ده سره دی.

سخت ساړه وو. خلکو خپلې پښې په وړیو کې پټې کړې وې او په کوټو کې ناست وو. سقراط لیدل کېده چې لوڅې پښې ګرځېده. دا کار عامو وګړو هېڅکله نه شوای کولای. بیا یوه داسې پېښه رامنځته شوه چې ټول ووېرېدل. ځینو شکمنو خو پرې د رب النوع ګومان وکړ.

یوه ورځ غرمه مهال آوازه ګډه شوه چې سقراط په خپلې خېمې کې له سهار راهیسې په یو حالت کې ولاړ دی. د ده د خېمې پر وړاندې د پلټونکو پوځیانو لوی کتار جوړ شو. د سقراط پښې له ځمکې سره ښې کلکې لګېدلې وې او لباده (د وخت ارته جامه) یې پر اوږو پرته وه. سترګې یې پټې وې؛ خو داسې ښکارېده، لکه په پټو سترګو چې هر څهویني. پوځیانو رنګارنګ پېښې وکړې، تر څو د ده پام د ځان پر لور واړوي. ځینو یې جامې کش کړې. چغې یې پرې ووهلې؛ مګر ده هېچا ته هم ونه کتل. انتظار اوږد شو. تر دې چې

ماښام شو. ځينو ويل چې هغه په ولاړه ويده شوی دی. بايد چې د ده ويښېدو ته انتظار وويستل شي. بيا به يې ويل:((که هغه ويده شوی دی؛ نو بيا ولې نه پرېوځي؟)) دا داسې پوښتنه وه چې له هېچا سره يې ځواب نه و. ډېر خلک بېرته راغلل؛ خو ډېر نور همالته ورته ويده شول او د ده د ويښېدو انتظار يې وويست. هغه د يوې جوړې شوې مجسمې په شان د ځمکې پر سر، سريښ شوی و.

شپه تېره شوه. له ورېدونکې پرخې سره يې جامې لمدې شوې. له لمر ختو سره د ده بدن هم په حرکت راغی. هغه په خپله ختيځ لور ته تاو شو. لمر ته يې مخ کړ او دعا لپاره يې لاسونه لپه کړل.

د ده دې حرکت خلک نور هم حيران کړل، ځکه د اتن خلکو د لمر عبادت نه کاوه او سقراط د دعا لپاره لاسونه پورته کړي وو.

ده وروسته د دې کړنې، معنا داسې کړې وه: ((زه د جهل له تورتم څخه کرکه لرم. د نېکۍ او ښېګڼې روښنايي مې خوښېږي. همدې لپاره د لمر له رڼا سره مينه لرم.))

همدا لامل و چې ډېره موده وروسته د ده يوه شاګرد اپلاتون د نېکۍ مفهوم د ښودلو لپاره د لمر نښه وکاروله.

***

د مور او پلار له مړینې وروسته یې واده وکړ.

د ده مېرمن زنتیپي که څه هم ډېره حوصله ناکه ښځه وه؛ خو کله چې ده د ډېرتوږنې دنده پرېښوده، هغه ډېره خواشینې شوه. د دې لپاره نه چې پر کور یې غریبي او لوږه نازله شوې وه. هغې په جهېز کې یو بلا سامان راوړي وو. اوس د هغو د ختمېدو وېره وه. د سقراط له مور او پلار څخه هم په میراث کې ډېر څه نه وو پاتې چې د دوی ژوند دې پرې تېر شي. هغه دې ته اندېښمنه وه چې دا دومره لږې روپۍ به تر کومه له دوی سره پاتې شي. په داسې حال کې چې سقراط د عامو عقل مندو په څېر ژوند نه تېروي یعنې د دنیا او دولت هېڅ په کیسه کې نه و. په کور کې جنګونه پیل شول. سقراط خبر لوڅی و؛ خو جنګېرک نه و. هغه د ماندینې د خوشاله ساتلو په پار، د ګټې ډېرې لارې ولټولې.

د ده ملګری کرایټو، له یوې بزګرې کورنۍ څخه و. هم یې باغونه لرل او هم یې سوداګري کوله. یوه ورځ چې په مخه ورغی؛ نو خپله مجبوري یې ورته مخې ته کېښوده:

- ملګریه! زه د حقیقت په لټه کې یم. دا هم یو حقیقت دی چې ژوند تېرولو لپاره پیسو ته اړتیا وي.
- سـقراطه! زه ډېـر خـوښ شـوم چـې تـا د خوبونـو لیـدل پرېښودل.
- دا زما، نه، زما د ښځې هیله ده. هغه بې عقله غواړي چې زه دې دولت وګټم.
- ته له ما نه څه غواړې. قرض دې په کار دی او که دنده غواړې؟
- قرض، شتمن اخلي او د دندې اجازه نه لرم. زه غواړم چې زما څـه پیسـې پـه سـوداګرۍ کـې ولګـوې. ګټـه بـه یـې زنتیپي ته رسیږي. پیسو ته هغه اړتیا لري، زه نه!

کرایټو ورسره د دا راز سوداګرۍ تړون ومانه.

زنتیپي اوس هـم خوشـاله نـه وه. هغـې سـوچ کـاوه چـې کـه خاوند یې د نورو په شان په همدې پیسو خپله سوداګري کولی؛ نو ژوند به یې تر دې ډېر هوسا و. کاش! چې خاوند یې، د نورو سړیو په شان هوښیار وای!

سقراط خوښ شو چې تر دې وروسته به په آرامۍ سره ژوند تېروي. اوس به د فکر کولو لپاره ډېر وخت ولري. د هغه ملګرو لیدل چې سقراط د ژوند د یوه داسې طرز پر جوړولو بوخت دی، لکه د چا

مقابلې ته چې چمتووالی نیسي. خوب او خوراک یې کم شو. لکه څوک چې د ځغاستې سیالۍ لپاره ځان برابروي او د منډې پر مهال ورته کوم خنډ پیدا نه شي. داسې هم نه وه چې گوندي په کوم المپیک کې یې د گډون لپارۍ تیاره نیوه. دې لپاره چې نوموړی لوبغالي ته خامخا ته؛ خو هلته به یې د ځغاستې یا غېږنیونې پر ځای له خلکو سره خبرې کولې.

بیا معمول داسې شو چې له لمر خاته سره به له کوره ووت او ټوله ورځ به یې په بازار یا لوبغالي کې خبرې کولې. یو بل بدلون په کې راغلی و. اوس هېڅ غوسه نه ورتله. چا چې به څومره ترخه خبره ورته کوله، الف قدرې به یې نه ویلې. هغه به تل شکایت کاوه چې گاونډیان یې ټول هغه څه نه ویني، کوم چې دی یې ویني. هغوی په یوه داسې غار کې اوسیږي چې له بهره ورته هېڅ رڼا نه ورځي. په ښار کې هرو، مرو ښې خبرې کیږي؛ خو ولې همېشه ښې خبرې نه کیږي؟ خلک ښېگڼې کوي؛ خو له هغوی سره د ښېگڼې شعور نشته. همدا لامل دی چې سملاسي بله شېبه بدي کوي. هغه داسې خلک لټول چې د ده پوښتنو ته ځواب ووایي.

هغه د یوې کلمې د لیکلو زحمت هم نه و ویستلی. یوازې خبرې یې کولې. د ده همدا فلسفیانه خبرې وې چې نورو به لیکلې.

ده په کتو، ځینو نورو خلکو هم د پوښتنې کولو چل یاد کړ؛ خو هغوی مازې طریقه یاده کړې وه. د بحث له موخې او روح څخه به خبر نه وو. د دوی پوښتنې له لفظي تبادلې پرته نور هېڅ نه وې. یو ډول مداریتوب روان و. د بېلگې په توگه: په لوبغالي کې سقراط یو ځوان له بل چا سره په خبرو ولیده. ځوان بل ته ویل: آیا زه دا ثابت کړم چې ستا پلار یو سپی دی؟

مخاطب ځوان ځواب ورکړ: څنگه؟

- خو ته وایې چې له موږ کره یو سپی دی.

- هو!

لومړي ځان بیا پوښتنه وکړه: سپی به بچیان هم لري!

- هو لري یې!

- او سپی د هغوی پلار دی.

- هو! زه په دې باور لرم.

- آیا هغه ستاسو نه دی؟

- بالکل زموږ دی.

- پس ثابته شوه چې سپی یو پلار دی او هغه ستاسو دی او همدې لپاره هغه ستا پلار دی!

ځوان لکه د بریالي سرتېري په څېر ها خوا، دېخوا وکتل. سقراط د ده بې هدفه منطقیتوب ته د برېتو لاندې موسکی شو. که

هغه غوښتلی، په ورځ کې یې لس داسې ننداري ښودلی شوې. له سوال او ځواب څخه د سقراط موخه مداریتوب او نظربندي نه وه. هغه ژوند لپاره د یوه غوره بنسټ په لټه کې و. دی په دې باور و چې هغه څه ته څنګه د ورزده کړې یا پوهونې نوم ورکړي، کوم چې دی یې د ځان د پوهونې لپاره له خلکو پوښتي؟ ده خپلې دروازې د ټولو پر مخ پرانیستې وې. دا یوازې د خولې خبره نه وه، بلکې هېڅکله یې هم داسې نه وو کړي چې دروازه دې بنده کړي او ویده شي. هر سړی یې خوا ته تلی شو. تنکي ځوانان، د ښوونځي ماشومان، ښاریان، مساپر، غلامان، خپل، پردي ټول د ده خواته ورتلل.

ډېر به ورته تنکي زلمیان راتلل، ځکه له نویو خلکو سره د نویو خبرو د زده کولو مینه وي. بس همدا خبره د سقراط مخالفانو لپاره یوه ښه پلمه شوه. اوازه یې ګډه کړه چې سقراط خو له دې ماشومانو سره ناوړه اړیکې لري او په دې ترتیب پر سقراط د لواطت فحاشۍ خورولو تور پورې شو. ډېرو خلکو پرته له سوچ او فکره دی بدنامه کړ. حال دا چې خبره یوازې همدومره وه چې دې تنکیو ځوانانو له ژوند سره همدومره مینه لرله، لکه څومره چې یې له سقراط سره لرله. دوی یوازې د سقراط باطني ښکلا لیدلې وه. همدا لامل و چې هره ګړۍ به ورسره اوسېدل. سقراط هم په هغوی کې ځواک او ښکلا لیدلې وه. همدې لپاره به سقراط دا خبره په زغرده کوله:

((کله چې وګړي یو د بل د باطني ښکلا پر بنیاد ملګرتیا کوي؛ نو حقیقي ملګرتیا رامنځته کیږي.))

خلک د ښو اسونو، سپیانو او جنګي مرغانو په لیدو خوشاله کیږي؛ خو زه د ښو ملګرو په لیدو ډېر خوشاله کېږم. که ما ته کوم نوی شی معلوم شي، زه یې خپلو ملګرو ته وایم. زه باور لرم چې هغوی به نیکۍ ترلاسه کړي. زه د ساینس پوهانو په څېر د لمر، سپوږمۍ او ستورو خبرې نه کوم. له انسانانو سره د انسانانو خبرې کوم. زه هغه څیزونه لټوم چې په انسانانو پورې اړه ولري.

***

د اېتنيا معبد پر رغولو لس کاله تېر شول. سقراط د ډبر توږنې له دندې سره مخه ښه کړې وه؛ خو وخت ناوخته به له ملګرو سره هلته ورته. په دې ورځ بيا همغه تللی و چې په ډله کې يې يو روان هلک وليد. همغه هلک دومره ښکلی و چې خپل د ښايست شور يې په خپله احساساوه. د سترګو په کونجونو کې يې هاخوا، دېخوا کتل. لکه له نورو سترګو چې د خپلې ښکلا ستاينه غواړي. له سقراط څخه بچ نه شو. همغه يې ناڅاپه مخې ته ورغی. ده ورته په ځير، ځير وکتل. د ده په دا راز ليدو هلک ووېرېد: ((ته پوهېږې چې زه څوک يم...؟ بياديز يم.))

- د خپل نوم په شان ښکلی!
- او ته سقراط يې. فلسفي سقراط!
- يو بدشکله؛ خو پاک زړی!
- تېره ورځ فارقليس ستا په اړه خبرې کولې....

لا يې نور هم څه ويل چې ناڅاپه يې ډبره يې پورته کړه او د يوه بوډا پر لور يې ورګوزاره کړه، کوم چې له دوی څخه په لږ واټن کې د تيږو د ډېرۍ شا ته پټ و. ښنبه يې خطا شوه. بوډا بيا پټ شو.

- دا زما غلام زوبي رس دی. فارقلیس دی زما پر ځارنې گمارلی دی او زه دا نه شم زغملی چې څوک دې زما ځارنه وکړي.

هلک خپله خبره پای ته ورسوله او سقراط ته موقع په لاس ورغله چې هغه د خپلو خبرو په جال کې راگیر کړي:

- ته څه پوه شوې چې هغه ستا غلام دی؟

- عجیبه ده! چې ما ته نه وي معلومه؛ نو چا ته به معلومه وي؟

- ته څنگه ډاډه یې چې ته غلام نه یې؟

دې خبرې هلک ته زور ورکړ او ځان یې یو ځل بیا وروپیژاند:((ته خو پوهېږې چې زه د (ډي آینو میکې) زوی یم. فارقلیس زما سکه ماما دی او زه د فارقلیس په کور کې اوسېږم. زه څنگه غلام کېدی شم! او که ته دا وایې چې کوم خلک په خپله خوښه کار نه شي کولی، هغه غلام دی؛ نو واوره...! زه هر کار په خپله خوښه کوم. تا همدا اوس ولیدل چې زما زړه وغوښتل او ما زوبي رس په کاڼي وویشت. کله کله خو زه فکر کوم چې زه په اتن کې تر گردو وگړو خپلواک یم.))

دې اوږدو خبرو پر سقراط د زرې قدرې هم تاثیر ونه کړ. ده ترې بلـه پوښـتنه وکـړه: ((زه فـارقلیس تـه وایـم چـې تـا د مچنغـوزي ویشتونکو په ډله کې ونیسي، ځکه تیره وارول ستا ډېر خوښیږي.))

- تیره وارول ما ته خوند نه راکوي. ما غوښتل، زوبي رس ته دا وښیم چې زه له هغه څخه غوره یم.

- په څـه شي کـې ترې ښـه یـې؟ لکه یو نـانوای چـې لـه بـل نانوای څخه ښه وي؛ همداسې؟

- هو! خو زه نانوای نه یم. دا مثال دې ولې ما ته راکړ؟

څوشیبې غلی شو. بیا یې وویل: ((زما موخه دا وه چې زه د یوه انسان په صفت غوره یم.))

سقراط پوه شو چې دا یې د ډلې سړی دی.

- ایلسيـ بیادیزه! مـوږ دواړه بایـد ملګـري شـو. راځـه چـې پـه ګډه حقیقت وپلټو!

له همدې یوې لیدنې سره ایلسي بیاوېز د سقراط لېوال شو. تر دې وروسته به د خان زوی له سقراط سره ګرځېده. خلکو فکر کاوه چې له هغه څخه به ډېر ژر د بیادېز زړه تور شي؛ خو دا فکر یې غلط ثابت شو.

د دوی ژوره ملګرتیا د ښو اخلاقو ښکارندویه وه؛ خو څوک نه پوهېدل چې د دوی تر منځه څه تېریږي؟ کله چې د دوی ملګرتیا

پخه شوه؛ نو خلکو تور پورې کړ چې سقراط، بیادیز بې لارې کوي. له ده سره هم هماغه اړیکه لري، لکه له نورو هلکانو سره یې چې لرله!!!

د دواړو ملګرتیا تر دې بریده کلکه وه چې بیادیز به سقراط پسې د ترلي سپی په شان شا ته، شا ته روان و.

په اتن کې د جګړې وریځې بیا په خورېدو وې. دا ځل د پویدیا جګړه وه او سقراط او بیادیز دواړه په کې شامل وو. دا جګړه تر یوه کاله پورې روانه وه. خوږو یارانو د خپلې ملګرتیا یو کال په جګړې کې تېر کړ. کله چې جګړه پای ته ورسېده؛ نو دواړه اتن ته راستانه شول. بیادیز د سیاست ډګر ته پایځې بدې وهلې او له همدې ځایه د دواړو بېلتون پیل شو.

سقراط هم څه موده بیادیز ته شا واړوله. هغه د دې لپاره چې اپلاتون په همدې ورځو کې د ځوانۍ پر پوړیو پل ایښی و. له سپارتیانو سره جګړه پیل شوې وه.

هغه همدا شېبه کور ته راستون شوی و. زنتیپي د هغه په انتظار ناسته وه؛ خو له دې نه وه خبره چې هغه به له ځان سره داسې خبر راوړي؟: ((زه مخکې له ماښام څخه جګړې ته روانېږم. له سپارتیانو سره جګړه پیل شوې ده. دا به اوس زړورتیا نه وي چې زه دې د نیکۍ درسونه ورکوم. دا کار په مورچل کې هم کېدلی شي.))

- زه به بیا یوازې اوسېږم.

- ما کرايېو ته ويلي دي. هغه به دربانديې پام کوي.

- له دې نه خو دا ښه وه چې ما له داسې چا سره واده کړی وای چې د بوختياوو په پلمه جگړې ته نه تللی.

- زه اوس هم کولی شم چې لاړ نه شم؛ خو زه له هغو خلکو څخه نه يم چې ملي گټې له خپلو گټو څخه ځار کړي.

د سقراط مېرمن ماښجنه شوه: ((خير ما ته ووايه چې زه به څه کوم هن...؟ زما دا بد شامت دې خاورې شي!))

- زه جگړې ته روان يم. زما سامان له بکس څخه راوباسه او لږ تر لږه د درې ورځو خواړه هم تيار کړه.

زنتيپي به تل له سقراط سره ناندرۍ وهلې؛ خو مينه يې هم ورسره کوله. د هغه هېڅ خبره يې ځمکې ته نه شوه غورځولی. په منډه لاړه او له هرپي (صندوق) څخه يې ژېړينه (برونز) خولۍ او زغره راوړه. بيا حجرې ته ننوته. له دېوال څخه يې لينده او سپر راکوز کړل او بيا يې سقراط ته وروسپارل.

- سپر لږ پاک کړه!

- زه بايد ستا جامې هم ووينځم.

هغه لاړه او سپر يې ښه وځلاوه. پخوانۍ جامې يې ورته ووينځلې او پر تناب يې هوارې کړې. بيا د ډوډۍ پر تيارولو اخته شوه. د ډوډۍ د تيارولو پر مهال يې په ژېړينه خولۍ کې د اس د وېښتو

جوغه ورېومبله. په یوې غوټه کې یې ورته وچ کبان، زیتون، ډوډۍ، پنېر او نور خوراکي توکي وروتړل.

هغـه پخپلـه د ښـار تـر وره پـورې ورسره لاړه چـې د پـوځ د کوچېدو ننداره وګوري. د دې جګړې په اړه ډېر معلومات نشته؛ مګر سقراط یو کال وروسته راستون شو. جګړه تر کابو شلو کلو پورې روانه وه.

***

اپلاتون د ہوې اوچتې کورنۍ سړی و. نوموتی سولن، د ده له نیکونو څخه و. د کورني دود له مخې د ده میلان د سیاست پر لور و. دا هېوادپال د مشرۍ لېوال و. هغه مهال چې د انځورګرۍ او شاعرۍ په برخه کې یې زده کړې کولې، له سقراط سره یې آشنایي پیدا شوه.

ده له ماشومتوب راهیسې د سقراط په اړه خبرې اورېدې. بیا ورو، ورو د سقراط په دایره کې شامل شو. په یوه ګوټ کې به کښېناسته او د هغه خبرې به یې اورېدې.

د ایلسي بیادیز تر بېلتون وروسته سقراط ته دا ډېره اړینه وه چې د یوې لویې کورنۍ غړی، اپلاتون د خپل اغېز په کړۍ کې کې راولي؛ خو له بل لوري دا پېر د سقراط د غمونو زمانه وه.

اپلاتون شاعري او انځورګري پرېښوده او هره ګړۍ به له سقراط سره اوسېده. یو ځل بیا هماغه آوازې خورې شوې، کومې چې د بیادېز په وخت کې خورې شوې وې.

په اتن باندې د جګړو تندر رانازل شوی و. دا کال د هېڅ لپاره د آرامۍ او سوکالۍ زمانه نه وه. سقراط تر ټولو ډېر په ستونزو کې راګېر و. هغه لږ عاید یې نه بس کېده. ده خپلې پیسې په

سوداګرۍ کې بندې کړې وې او سوداګري مخ په ختمېدو وه. ښار له کډوالو ډک شوی و. له همدې امله د خوراکي او نورو توکو قحطي پیدا شوې وه. د سپارټا جنګي بېړیو د بحر لارې تړلې وې.د غلې هېڅ کښتۍ راتلی نه شوه. بازارونه تړل شوي وو. په داسې شرایطو کې د ادب او اخلاقو مراعتول، ناشونی کار و. همدې حالاتو د سقراط کارونه نور هم اړین ګرځولي وو. د چا چې څنګه خوښه وه، هغه یې کول. په داسې ترینګلو شرایطو کې سقراط د اخلاقي ارزښتونو د پلي کېدا ټینګار کاوه. ده په یوازې ځان د ناپوهۍ او جهالت مقابله کوله. په دغه ټوله موده کې اپلاتون ورسره و او د ده ویناوې یې خوندي کولې.

اخلاقي ارزښتونه دومره لوېدلي وو چې جرګې په ډېرې بې پروایۍ دا خبره منظوره کړه چې د (میلوس) ټاپو ټول نارینه دې ووژل شي او ښځې او ماشومان دې غلامان شي.

د جګړې دومره ډالۍ لا کمې وې چې طاعون یا وبا خوره شوه. د لوېدلو اخلاقي ارزښتونو پر مټ، د ناروغانو احوال پوښتنې هم سر وخوړ.

کله چې سقراط د دې بې حسۍ پر وړاندې غږ پورته کړ؛ نو یوازې پاتې شو. چا چې ځان ته ښوونکی او معلم وایه، هغوی به ویل

چې د رښتيا او دروغو پخواني قوانين، کمزورو خلکو جوړ کړي وو. ځواکمن خلک بايد دې خبرو ته ژمن نه وي.

د سقراط پر وړاندې د مخالفتونو توپان پورته شو؛ ځکه ده پر خانانو، ملکانو نيوکې کولې. د يوه سازش له مخې په هغه تور ولګېد چې دی د ارباب الانواعو وجود نه مني او غواړي چې ټولنه په خپلو جوړو کړو قوانينو کې را ايساره کړي. د ده شاوخوا پی مخي ځوانان راټول شوي دي. دی د هغو اخلاق ورخرابوي او له مذهب څخه يې کرکجن کوي. دې لپاره چې د دې سازش تر شا د واکمن پوړ لاس و، په خورا چټکتيا سره خور شو.

يو طنزيه تمثيل وليکل شو. په دې تمثيل کې ممثل، سقراط د يوه پليت انسان په توګه معرفي کړ. په دې تمثيل کې وښودل شول چې سقراط يوه ځوان ته د دې زده کړه ورکوي چې د ارباب الانواعو له وجود څخه انکار وکړي. له خپل مور او پلار سره جار او جنجال وکړي او غوسې پرې وکړي.

له يوې خوا دا لوبه ورو، ورو په خلکو کې ګرمېده او له بلې غاړې سقراط ته د خبردارۍ زګنال و.

***

د اتن پوځ به هر کال په اوړي کې د جگړې ډگر ته روانېده او بحري بېړۍ به لرې، لرې ځايونو ته تللې. دا جگړه لس کاله روانه وه. ښايي د کوچني آسيا د ساحل تر څنگ جگړه به وروستۍ نښته وه. په اتن کې جبري عسکري اعلان شوه. هر چا چې توره چلولی شوه يا يې وسله پورته کولی شوه، دې جگړې ته واستول شو. د سقراط عمر شپېتو کلو ته رسېدلی و. هغه د ځينو نورو په گډون د اتن د ساتنې لپاره پرېښودل شو. اپلاتون هم ترې بېل شو. هغه هم د جگړې ډگر ته واستول شو.

د اتن لاس تورې پيشو څټلی و. په دې جگړه کې يې ماته وخوړه او لږ تر لږه دولس بحري بېړۍ يې ډوبې شوې. کله چې دا خبر اتن ته ورسېد؛ نو ټوله پړه يې د پوځ پر نويو غشيـ ويشتونکو واچوله.د جرگې پر وړاندې د پينځو سوو استازو په ناسته کې پرېکړه وشوه چې دغه نوي غشي ويشتونکي دې بېرته راوغوښتل شي چې محکمه شي.

سقراط (د ارباب الانواعو په وينا) تر اوسه له سياست څخه گوښه و؛ مگر دومره مهم شخص و چې له پامه نه شو غورځول کېدای. دی هم د جرگې غړی وټاکل شو.

ياد غشيـ ويشتونکي محکمې ته وړاندې شول. چا چې دا تور لگولی و، هغه تېرا مينز (Thera means) نومېده او بحري کپتان و. سقراط پوه شوی و چې تېرامينز د ځان د خلاصون لپاره په غشيـ

ویشتونکو تور لګوي، ځکه ده پرېکړه وکړه چې د غشي ویشتونکو د سزا پر خلاف به رایه ورکوي. که بیا یې هم سزا ولیده؛ نو لږ تر لږه خپل ضمیر ته خو به خجل نه وي!

د تقدس د پخواني دود له مخې لومړی تي خور خنزیر شاوخوا وګرځول شو. بیا دعا ولوستل شوه او د قانون پر سرغړوونکو یې لعنت ووایه.

ټولو وویل چې جرګه(پلاوی)دې ژر تر ژره د سرغړوونکو پر وړاندې خپله پرېکړه واوروي. رایې لپاره دې دوه ګړي کېښودل شي. یو دسزا او بل د خلاصون لپاره. د دې رایو له مخې یا به ټول غشي ویشتونکي بری مومي او یا خو به ټولو ته سزا اورول کیږي.

سقراط خپل یو ملګري ته وویل: ((زه په دې کار کې د رایې اچونې مخالفت کوم. آیا تاسو زما ملاتړ کوئ؟))

- ته لېونی شوی یې؟ ته به هم له غشي ویشتونکو سره ووژل شې. پام کوه چې دا کار ونه کړې!

- نور خلک هم همدا غواړي؛ خو هغوی ترهېدلي دي. دا غیرقانوني کار دی. موږ باید د سوګند احترام وکړو. موږ باید قانون ته درناوی ولرو!

سقراط دا خبره وکړه او ورسره جوخت د مسلې پر خلاف ودرېد. له ده سره د ده ملګری هم ودرېدل. وړاندې تر دې چې ده یا د

ده ملګرو ته زيان رسېدلی وای، نور غړي ترې راتاو شول؛ خو هېڅا هم د ده په پلوۍ ژبه ونه ښوروله. سقراط ځان ته يوازې پاتې شو. هغه چيغې کړې: ((ما د قانون د پابندۍ سوګند خوړلی دی. زه به د قانون ملاتړ کوم.))

د ده پــر غبرګــون سربېــره رايــه شــمېرنه وشــوه او غشيــ ويشتونکو ته د مرګ سزا واورول شوه.

دا لـه معجزې کمـه نـه وه چـې سـقراط ژونـدی راسـتون شـو؛ خو سزا پرې پور وه. تېرامينز د ده کارونه نه وو هېر کړي.

د اتـن وګـړي وروسـته پېښـېمانه شـول چـې سـقراط يـې ولـې يوازې پرېښود او ولې يې د غشيـ ويشتونکو د مړينې مخه ونه نيوله؛ خو اوس خبره له خبرې تېره وه.

***

د اتـن لـه بشـپړې مـاتې او د څـو کلـو لـه پرلپسـې تسـلیمۍ وروسته، کله چې جګړه پای ته ورسېده؛ نو د سپارتا غشي ویشتونکي له تېرامینز سره د ښار په آمریت کې مرسته وکړه. د جمهوري ټغر ټولول او پر ځـای یـې دیکتـاتوري واکمنـي حـاکمول، آسـانه خـبره نـه وه؛ خـو سپارتا دا مهال برې خپل کړی و او د تیرامینز تر شا ولاړه وه. د تیرامینز په ګډون د ده دېرش ملګري پر جرګې قابض شول او د جرګې واک یې خپل کړ. په عامه اصطلاح کې دوی ته (دېرش) ویل کېده. دا خلک د سپارتا ملګري او د جمهوریت دښمنان وو. د سپارتي پوځ، شپږ سوه کسیزه ډله له دوی سره مله وه.

تیرامینز تر دې دمه سقراط نه و هېر کړی. ده ته معلومه وه چـې هغـه تـر اوسـه هـم پـه همـدې ښـار کـې دی او د جمهوریـت لپـاره هلې، ځلې کوي. که د ده غم ونه خوړل شي؛ نو لویه فتنه به وزېږوي. لـومړی خـو همـدې (دېرشـو) هغـه خپـل دفـتر تـه راوغوښـت. سـقراط خپل څادر پر ولي واچوه او د دوی مخې ته ورسېد. دې خلکو ډېر نرم چلند وکړ؛ خو غوښتنې یې ډېرې سختې وې:

- ته دې خپله ښوونه بنده کړه!

- زه د ښېګڼې تعلیم ورکوم.

- موږ دومره عقل نه لرو چې ستا په ژورو خبرو مو سر خلاص شي. ښه خبره همدا ده چې خلک نور د تعلیم په نوم بې لاري نه کړې!

- ښايي زه داسې ونه شم کړی. ارباب الانواعو ما ته همداسې حکم کړی دی. که زه په غلطه اوسم، پر ما عذاب نازلوي. ما په خپل حال پرېږدئ!

- که تا خپل وعظ او نصیحت پرېنښود؛ نو له ارباب الانواعو څخه مخکې به موږ پر تا عذاب نازل کړو.

سقراط خپل څادر څنډ وهه او له هغه ځایه پاڅېد.

په همدې ماښام خلکو ولیدل چې سقراط په لوبغالي کې دی. ځوانان ترې چاپېره شوي دي او دی ورسره بحث کوي. هغه هماغه شان په بازارونو کې ګرځي او نصیحتونه کوي. ورو، ورو خلک د ده په کور کې راټولیږي.

دا خبره د هغو (دېرشو) تر غوږو ورسېده. سقراط د هغوی لپاره وار په وار د سر درد جوړېده. اوس اړینه وه چې د هغه لپاره کوم بل جال وغوړوي.

بل ځل سقراط ته له درې، څلورو نورو کسانو سره د (دېرش) پر وړاندې د حاضرېدو امر وشو. کله چې دوی هلته

ورسېدل؛ نو ورته وویل شو چې د بحر غاړې ته لاړ شي، له بحر څخه واوړي او په سلامیز ټاپو کې غداران ونیسي او د محکمې په پار یې جرګې ته وړاندې کړي.

سقراط ته پته وه چې په څو شېبو کې به سپارتي پوځیان راورسیږي او د سرغړونې په تور به یې نیسي. دی او زنتیپې دواړه ساعتونه، ساعتونه دروازې ته څک وو. عجیبه وه چې هغه هر ځل بچ کېده. دا ځل بیا په ده پسې څوک رانغلل.

هغه بیا ډاډه شو.

د سپارتا (دېرش) په خپلو خولو کې ډوب وو. د دوی د سرتېرو د ظلمونو له کبله خلک کرکجن شوي وو. د کرکو د راټوکېدو یو لامل دا و چې د خلکو معاشونه یې په وخت سره نه ورکول. دوی ته اوس یوه لاره پاتې وه چې د شتمنو کورو ته ننوځي او د چور، چپاول بازار ګرم کړي. له دې لوټ، تالان سره سره یې د سیاسي دښمنانو د له منځه وړلو بازار هم ښه تود وساته. شتمن په دې تور وژل کېدل چې ګوندې له سیاست پوهانو سره مرسته کوي.

په (دېرش) کې هم بې اتفاقي او ګډوډي پیدا شوې وه. تیرامینز په ناڅاپي توګه د وژنو لړۍ بنده کړه. دی په دې زړورتیا خپلو ملګرو وواژه، مګر بالاخره مظلومیتونو او پراخو حوصلو رنګ راوړ او د څو کلو له زور، زیاتي وروسته، کله چې دېرش (چې اوس په حقیقت

کې نهه ویشت پاتې وو) کمزوري شول او جمهوري غوښتونکي چې د سپارتي واکمنۍ پر مهال جلا وطن شوي وو، په جنګ و جدل خپل هېواد ته راستانه شول. راستنېدل یې هم دومره آسانه نه وو. کوڅه په کوڅه یې جنګونه وکړل.

***

سقراط اوس اویا کلن و او دا مهال (۳۹۹ م.ز) کال و.ده په دومره اوږد عمر کې ډېرې لوړې، ژورې ولیدې. د سپارتا وېرووونکې جګړه یې ولیده. د اتن د ماتې ننداره یې وکړه. د جمهوریت د ختمېدو او د زورواکۍ پېر یې لیدلی و. داسې پړاوونه یې لیدلي وو چې د ده د ژوند خطره په کې وه او اوس یې د جمهوریت په سوله ییزو شېبو کې شپې، ورځې سبا کولې. د سولې د ټینګېدو څلور کاله تېر شوي وو. لویې جرګې خپل کار پیل کړی و.

د سقراط نوي ملګري اپلاتون، د ژوند اتلس پسرلي لیدلي وو او د دې لېوال و چې د سیاست پر لار پل کېږدي. د خلکو له ذهنو څخه وېره او اندېښنه هم په کوچېدوه وه. خلکو د تېرو خبرو د هېرولو سوګند کړی و او دا وعده یې کړې وه چې نور به د عیب لټونې عادت پرېږدي.

سقراط د دې وعدې پلوی نه و. د ظاهري سولې لپاره د خلکو د ژبو د بندولو پلوی نه و. هغه له قانون څخه ملاتړ کاوه؛ خو له داسې قانون څخه نه! هغه د (رښتیا) لټون روان وساته او همداسې مخ پر وړاندې روان و.

((رښتيا د ټولو خلکو ګډ ميراث دی. زه به تل رښتيا وايم.))

هغه خبر نه و چې له ځومره لويې ستونزې سره به مخ کيږي. هغه په دې ګمان و چې اوس خو د قانون واکمني ده او ده ته به هيڅ زيان ونه رسي.

د ده ملګری کرايټو هم خبر نه و؛ خو کله چې په ښار کې پسپسکې پيل شوې، هيښ شو. سقراط ته يې وويل: ((ته خبر يې چې ستا په خلاف دوسيه جوړه شوې ده او نږدې ده چې ته به محکمې ته راکښل شې؟))

- زه هم دا ګونګوسې اورم. خو تر اوسه محکمې ته نه يم غوښتل شوی!

کرايټو له ده سره خبرې خلاصې کړې. سم چې ښار ته ورسېده، ګونګوسې خورې شوې وې چې محکمې سقراط غوښتی. دا خبر غلط نه و. د مايلي توس په نوم يوه سړي ورباندې دعوه کړې وه. په سقراط يې تور لګولی و چې دی هغه خدايان نه مني، کوم چې د ښار نور وګړي پرې ايمان لري. ده پر نويو خدايانو ايمان راوړی دی او تنکي ځوانان بې لارې کوي. دی د نويو ځوانانو له لارې پر بدو عادتونو روږدی شوی دی. مايلي توس له محکمې څخه غوښتي وو چې پر ده دې دعوه اقامه او د مرګ سزا دې ورواورل شي. د توس د مرستيالی

لپـاره هـم دوه کسـه ټاکـل شـوي وو. يـو لايـي کـوني او بـل مشـهور سياست پوه انيطوس.

د انيطوس له ورګډېدو وروسته د سقراط سزا باوري شوې وه. ځکه هغه هم يو ښه وينا وال و او هم يې په عامو خلکو کې د يوه هېوادپال په توګه شهرت لاره.

سقراط بايد په محکمې کې دا ثابت کړي وای چې د ده ټول ژوند په پرهېزګارۍ کې تېر شوی دی. له تنکيو ځوانانو سره يې يوازې د يوه ښوونکي اړيکه لرلې ده. د ده په څېر يوه خبر لوڅ لپاره دا ستونزمن کار نه و. له همدې امله خلکو ډول، ډول خبرې کولې. خلکو ته هغه خندوونکې ډرامه هم وريادېدله، کومه يې چې موده وړاندې ليدلې وه. په دې تمثيـل کـې ورتـه تورونـه تکـرار شـوي وو. هغـه خنـدوونکې او مزاحيه ډرامه اوس په رښتياوو اوښتې وه.

ورځ لا پـه ځـای پـاتې وه؛ خـو ښـار لـه خـبرو ډک شـوی و. خلـک د هټيـو (دوکـانو) مخـې تـه پـر غوړېدلو دړو (تختـو) ناسـت وو ا وخبرې يې کولې:

- يـاره مـوږ خـو ډېـر وړانـدې د دې کـار پـه طمع وو. آخـر بـه همداسې کېدل.
- د انيطوس په څېر هېوادپال هم د مدعيانو په ډله کې دی. تورونه به هرو، مرو يو څه رښتيا وي.

- د ایلسي بیادیز کیسه دې یاده ده؟

- هه... هغه ځوک هېرولی شي!

- رښتیا خو دا ده چې سقراط ډېر خطرناک سړ ی دی.

- که داسې چېټي کسان په سپارتا کې وای؛ نو وخته به وژل
شوي وای.

- اورېدلي مې دي چې سقراط د انیطوس هلک هم تېر
ویستی و. انیطوس له همدې امله په غوسه شو.

هغه ځینې خواخوږي هم لرل.

- اویا کلن بوډا دی. تر ده وروسته به یې مېرمن بې اسرې
شي. بچیان به یې یتیمان شي. که گناهگار هم وي،
باید چې وبښل شي. ښه خبره دا ده چې په خبرو پوه
کړی شي.

یوه بل سړي وویل: ((دا هم کېدای شي چې د پخوانیو
دودونو له مخې مېرمن او ماشومان یې د ماتم په لباس کې محکمې ته
راوستل شي. کېدی شي، محکمه خپله پرېکړه بدله کړي.))

- کېدای شي؛ خو تا ته معلوم دی چې سقراط څنگه ضدي
انسان دی. هېڅکله به یې ونه مني. وبه یې گورې، په
محکمه کې به ببښنه هم ونه غواړي.

- او دی هغه پخواني دودونه مني چېرته!

- گوره! دا یوه خبره خو باید ټول ومنو چې ده د اتن د ټولو خلکو په زړونو کې د ویښتیا ځپې راوستې. ګورې به یې. ګټه به یې خامخا یو وخت معلومیږي.

دا خبرې یوازې په بازارونو کې نه کېدې. په کورو کې هم همدا کیسې کېدې. د انیطوس په کاله کې د دعوې چمتووالی نیول کېده: ((که په دې دوسیه کې لږه تېروتنه هم وشوه؛ نو سقراط به اتل شي. که سقراط پوښتنې پیل کړې؛ نو پوه شئ چې ګټلې لوبه مو بایلوده.))

- د پوښتنو پر مهال باید هغه په دې باوري کړو چې په جمهوریت کې د اکثریت پرېکړه منل کیږي. دی هم باید د اکثریت پرېکړې ته غاړه کیږدي. هلته د ایلسې بیادیز د کیسو یادولو ته اړتیا نشته. هغه یوازې د قانون ماتونې په قضیه کې محدود وساتئ.

د سقراط ملګري هم په دې نه وو خبر چې څه روان دي او څه به کیږي؟ دوی ټول وېریدلي وو؛ خو هیله من هم وو.

تر دې وړاندې په اتن کې د یوه سړي پر سر، دومره کیسې نه وې جوړې شوې.

د سقراط په اړه هېڅا ته هم پته نه وه. هغه په کور کې ایسار شوی و. خلکو هغه مهال ولید چې له لومړۍ محکمې څخه وروسته

لوبغالي ته راغی. د ده په څېرې کې نه چا خواشیني قدرې ولیده او نه وېره. له خلکو سره یې په خوشالۍ خبرې کولې.

چا ترې پوښتنه وکړه: ((ته خپل وخت دلته تېروې. محکمې لپاره به وینا کله چمتو کوې؟))

ده په خپل ځانګړي انداز کې ځواب ورکړ: ((ما خو ټول عمر دې تقریر لپاره خواري کړې ده.)) تر دې وروسته یې بله مسله را مخې ته کړه.

سبا د محکمې ورځ وه. هغه کور ته لاړ. او کرارې ویده شو، لکه سبا چې هېڅ خبره نه وي.

د ده ملګری کرایټو، د ده زلمی ملګری کرایټویوس، اپلاتون او څو نور ملګري یې سهار وختي کور ته ورسېدل چې له ده سره عدالت ته لاړ شي. عدالت ته هم پته ولګېږي چې دی هم څوک لري! دوی ټول شرمېدل چې څنګه به سقراط ګټي؟

سقراط له پخوا څخه هم ډېر خرب (چاغ) ښکارېده. بدرنګه قواره یې د ملګرو په لیدو له ډېرې خوشالۍ څخه وځلېده. څادر یې پر اوږې واچاوه او له ملګرو سره له کوره ووت.

د بازار ځینې خلکو د ده په لیدو وخندلې او ځینې نورو خواشیني ښکاره کړه.

له ملګرو سره يې خبرې کولې او روان و. ناڅاپه غلی شو. له حرکاتو يې ښکاره کېده، لکه د ده غوږو ته چې له ډېر لرې څخه کوم آواز راځي او دی يې د اورېدو هڅه کوي. پر شونډو يې نری موسکا خوره شوه او رڼې سترګې يې نورې هم بهر راووتې.

د اتن پينځه سوه او يو ښاريان چې د پڅې اچونې له لارې د منصفه پلاوي د غړو په توګه ټاکل شوي وو، وار دمخه محکمې ته رسيدلي وو. د محکمې مشر قاضي پر خپلې څوکۍ ناست و. عام خلک هم حاضر وو.

پيليزه دعا ولوستل شوه او ورپسې رسمي چارې پيل شوې.

تر ټولو وړاندې مدعيانو پر سقراط تورونه ولګول او د پخلي لپاره يې دلايل وړاندې کړل. سقراط د دوی ټولې خبرې په غور اورېدلې.کله چې جارچي ده ته بلنه ورکړه؛ نو پرته له کومې وارخطايۍ وړاندې شو. د دې پر ځای چې منصفه پلاوي ته خطاب وکړي، د اتن خلکو ته يې مخ واړاوه: ((د اتن خلکو! زه خو نه پوهېږم چې د مدعيانو د تورونو پورې کولو پر مهال به تاسو څه احساس کاوه؛ خو د ځان په اړه دا ويلی شم چې د دوی د خبرو پر مهال زه ځان ته حيران شوم چې څنګه سړی يم! بيا هم حقيقت دا دی چې هغو يو ټکی هم رښتيا ونه ويل. زه به دا ووايم چې زما تباه کوونکی مايلي توس نه دی. ما نړۍ تباه کوي. لکه څنګه چې دې نړۍ ډېر ښه خلک تباه کړل.

د اتن خلکو! زه چې اوس کوم کار کوم، د رب النوع په امر يې کوم. رب النوع ما ته حکم کړی دی چې خپل ژوند فلسفې ته وبښم. پس که زه د مرګ له وېرې له خپل مقام څخه په شا شم؛ نو زما دا کار به ډېر بد وي.))

سقراط د کومې تېروتنې ښښنه نه غوښته. هغه پر خپل دريځ کلک ولاړ و. هر څومره چې د هغه خبرې غځېدې، هومره د مخالفتونو غږونه پورته کېدل.

((ما ته وويل شو چې زه مې مانديني او ماشومانو ته د ماتم جامې ورواغوندم او دلته يې راولم، تر څو منصفه پلاوی پر ما ورحميږي. ای اتن والو! د ټاکل شوي پلاوي غړو خو د قانون له مخې د پرېکړه کولو سوګند خوړلی دی. زه هغوی ولې دې ته وهڅوم چې د قانون پر خلاف پرېکړه وکړي او زما د مرګ سزا کمه کړي.

هماغسې چې د آمريت او ديکتاتورۍ پر مهال وينا کول، له خطره خالي نه وه؛ همدغه شان د ولسواکۍ په پېر کې هم ناشونی دی چې څوک دې په ايمانداری سره کار وکړي او هغه دې خوندي پاتې شي. ما د دې تضاد د له منځه وړلو په پار ويناوې کړي دي. که تاسو ما په دې شرط ښښئ چې زه به اوس غلی پاتې کېږم؛ نو زه به د دې شرط له مخې له خپل خلاصون څخه انکار وکړم!))

د ده له خبرو ښکارېده چې ده د مړینې پرېکړه کړې ده. هغه په ډېرې زړورتیا، مخامخ د انیطوس مخالفت وکړ:

((انیطوسه! ته ما ته زیان نه شې رسولی. ځکه بد سړی، هېڅکله نېک سړي ته زیان نه شي اړولی.)) بیا یې دعا وکړه: ((زه سوال کوم چې رب النوع او محکمه داسې پرېکړه وکړي چې هم په کې زما خیر وي او هم ستاسو!))

د ده د وینا له پای ته رسېدو سره د محکمې په ودانۍ کې شور جوړ شو. هر سړي خپل غبرگون ښوده او اټکلي وړاندوینې یې کولې.

جارچي د رایې اچونې خبر ورکړ.

منگي یې یو لورته کېښودل او ټاکل شوو غړو په کې د خپلې یوې، یوې رایې اچونه پیل کړه. بیا یې منگي پر مېز کېښودل او رایه شمېرنه پیل شوه.

مدعیانو د مرگ سزا غوښتې وه. د جرم د ثابتېدو په صورت کې هغوی دا وړاندیز کولی شو چې د مرگ سزا دې په جلاوطنۍ واوړي.

تر رایې شمېرنې وروسته هغه یوازې په دېرشو رایو مجرم وگڼل شو. په دومره لږ توپیر چې سزا یې په جلاوطنۍ بدلېدی او نوموړی پرې له مرگ څخه ژغورل کېدی شو. د پلاوي غړو هم همدا

غوښتل چې هغه دې دا غوښتنه وکړي؛ خو دې خبرې ټول هک، پک کړل:

((زه چې په خپل ښار، اتن کې رښتيا نه شم ويلی او په بدل کې يې دلته ودرول کېږم؛ نو د بل ښار خلک به مې چېرې رښتيا ويلو ته پرېږدي؟ زه چوپ نه شم پاتې کېدی، ځکه ارباب الانواعو ما ته د ويلو امر کړی دی.))

له دې خبرو سره په خپل ځای کښېناسته.

((زه خو به خپله سزا ووينم؛ خو پر تاسو هم سزا پور ده. مرګ  زما سزا او بدي ستاسو سزا!))

شپېږ پس د محبس ماموران راغلل او دی يې بوته.

د دود له مخې، ده بايد سبا ته د زهرو ګيلاس څښلی وای؛ خو يوې ناڅاپي پېښې د ده ژوند يو مياشت نور هم وغځاوه. ده رښتيا ويلي وو چې مرګ  ورو روان وي.

د اتن خلکو هر کال په پسرلي موسم کې ډېلوس ټاپو ته يوه ډله خلک او يوه بېړۍ استوله. د رواياتو له مخې اپالو رب النوع همدلته زېږېدلی و او د دغې بېړۍ او ډلې په استولو د ده د زوکړې ورځ لمانځل کېده. دا قانون و چې تر کومې به دا بېړۍ بهر وه، هېڅ بندي ته د مرګ  سزا نه ورکول کېده. په دې ورځو کې دا بېړۍ ډېلوس ته تللې وه. بېرته راتله چې مخالفو هواګانو ودرېدو ته اړه کړه.

د سزا پلي کېدل، د بېړۍ په ستنېدو پورې تړلې و.

ملګرو يې لېږه نوره موده ومونده چې په کې له ده سره وګوري.

د سقراط هره ساه بېړۍ پورې تړلې وه. د لمر له روښنايۍ څخه لرې په يوه تياره کې اوسېده؛ خو د محبس آمر پر ده ډېر مهربان و، ځکه د ده څو ځانګړو ملګرو هر وخت له ده سره ليدلی شو.

مرګ ځنډېدلی و او همدې ځنډ د سقراط ملګرو ته د فکر کولو موقع ورکړه. ټولو په ګډه پرېکړه وکړه چې د محبس آمر او پيره دارانو ته د رشوت په ورکولو، سقراط د هغه د پلويانو لور (تيسلي)ته وليږي.

د پيسو بندوبست سخت کار نه و. کرايټو يو داسې سړی ليدلی و چې له قچرو سره تلی شو. دا ټول امکانات وو؛ خو خبره د سقراط د راضي کېدو وه. کېدی شي چې مخکې يې دې کار ته غاړه نه ايښوده او اوس يې ورته کېږدي. همدا مهال خبر راورسېد چې بېړۍ به تر سبا پورې راورسيږي. د دې خبرې معنا دا وه چې بل سبا به سقراط وژل کيږي. ډېر وخت نه و پاتې. که څه کېدل؛ نو چې په وخت شوي وای. له سقراط سره دې خبره وشي. کرايټو د سقراط د وړوکتوب يار و. د ښوونځي د دورې ملګری يې و. دا کار هغه کولی شو.

لـه سـبا کېـدو دمخـه، کرايټـو د محـبس د آمـر پـه مرسـته د سقراط توري خونې ته ورسېد. هغه همدا شېبه له خوبه پاڅېدلی و. کرايټو، هغه له خپل پلان څخه خبر کړ.

سقراط ښه په آرامه ساه ټول پلان واورېد او بيا يې ورته د يوې، يوې خبرې ځواب ورکړ: ((ژوند دومره اړين نه دی، لکه څومره چې صحيح ژوند اړين دی. روغه خبره خو دا ده چې د بدي ځواب بدي نه ده!))

ده خـو بـه تـل داسـې خـبرې کـولې؛ خـو دې وينـا يـې خـبره خلاصه کړه: ((کرايټو! کله چې زه ځوان شوم او قوانين مې وپېژندل؛ نو هغه مې ټول ومنل او غاړه مې ورته کېښوده. زه ترې ونه تښتېدم او نه مې بل داسې ښار ته د تېښتې هڅه وکړه چې قانون يې تر ده غوره و. ووايـه! زه اوس څنګـه قـانون مـات کـړم او کـه داسـې وکـړم؛ نـو پـه راتلونکي کې به په کومه خوله د ښېګنې نوم اخلم؟))

اوس لـه کرايټـو سره د ويلـو څـه نـه وو پـاتې. هغـه سـقراط پېژنده. پوهېده چې هغه په هېڅ ډول غاړه نه ږدي. اوس بايد د نورو ملګرو لور ته ورغلی وای او دا خبر يې ورته رسولی وای چې پلان ناکام شو او اوس دې د سقراط ګرد چاپېره د مرګ  د رب النوع اتڼ نندارہ کړي.

ماښامه پورې بېړۍ راورسېده. مرګ په همدې کې سپور راغلی و. د سقراط او مرګ تر منځ د یوې شپې واټن و.

زنتیپي شپې تر شپې د سقراط خوا ته واستول شوه چې له خپل خاوند سره خپله وروستۍ خواله وکړي.

بله ورځ سهار وختي کرایټو یې خوا ته ورغی.

سقراط په خپله بستره کې غځېدلی و. له پښو څخه یې زولنې لرې شوې وې. په پنډیو کې یې د زنځیرونو هغه خاپونه له ورایه ښکارېدل، پر کومو چې ده اوس لاسونه راکاږل او د درد د آرامېدو هڅه یې کوله. زنتیپي خپل تر ټولو کوچنی ماشوم په غېږ کې نیولی و او د سقراط خوا ته ناسته وه. هغه ټوله شپه له سقراط سره ناسته وه او ژړلې یې. هغې اوس هم ویر کاوه.

سقراط کرایټو ته وویل: ((که دا دلته ناسته وي؛ نو همداسې به ژاړي. ته یې له خپل کوم ملګري سره کور ته واستوه!))

کرایټو د هغه مېرمنه له خپل یوه راغلي ملګري سره کور ته واستوله. په تیاره خونه کې وېروونکې چوپتیا خوره وه. سقراط دا چوپتیا ماته کړه: ((کرایټو! ما له وېښېدو څخه وړاندې یو خوب ولید. ته یې هم واوره. زما خوب ته یوه ښځه راغله. ما ته یې ویل چې ته به نن خپل کور ته ورسېږې. زه خو پوهېږم چې نن مرم؛ خو مهمه خبره د کور ده. له دې داسې ښکاري چې ښايي زما له مړینې وروسته به،

خدای له ما او تا سره نیاو (انصاف) کوي او ورسره به زموږ ارواګانې پاکې شي.))

بیا یې پر (مرګ ) خبرې وکړې. د مرګ معنا څه ده او تر دې وروسته به څه کیږي؟ د نومورې تاریخي جمله دا وه: ((مرګ ، زما یا د بل چا د ژوند پای ته رسېدو ته نه وایي.))

د کرایټو سترګې ډکې شوې. په ډېرې خواشینۍ یې له هغه څخه پوښتنه وکړه: ((موږ ستا لپاره څه وکړو؟))

- څه نوې خبره نشته. یوازې خپل خیال ساته!

هغه د کرایټو مطلب سم درک نه شو کړای، ځکه کرایټو وضاحت وغوښت: ((موږ تا څنګه ښخ کړو؟))

- څنګه چې ستاسو خوښه وي؛ خو پوښتنه دا ده چې تاسو به ما ونیولی شئ او که درڅخه به وتښتم؟

هغه دا پوښتنه د طنز په ډول وکړه او ورسره په خندا شو. بیا جدي شو. ((زه به له زهر څښلو وروسته له تاسو سره نه یم. زه به له هغو خلکو سره یو ځای شم، پر چا چې د نېکمرغۍ سپوری خور دی، ځکه خو په خوب کې هغې ښځې راته وویل چې زه به خپل کور ته ورسېږم.)) بیا یې کرایټو ته په خطاب کې وویل: ((همت وکړه! داسې وګڼه چې جسد زما دی او د ښخولو واک یې له تا سره دی. څه چې دې خوښه وي او څنګه درته مناسب ښکاري، هماغسې وکړه!))

د سقراط خبرې تر همدې ځایه رسېدلې وې چې زنځیري له خپلو بچیانو او نورو مېرمنو سره بیا راغله. کرایتو له هغه ځایه لرې شو. له دې ښځو سره په خبرو، خبرو ماښام شو.

ده لا خبرې کولې چې د محبس آمر د مرگ پیغام راوړ:

((وبښئ! اوس هغه وخت راورسېد چې تاسو باید د زهرو پیاله وڅښئ!))

دا داسې پیغام و چې ملگري یې نه انکار کولی شو او نه اقرار. ده خو په هر حال کې قانون ته غاړه ایښوده. سقراط د خپلو ملگرو ناکراري درک کولی شوه. دی له خپلو ملگر وڅخه وړاندې شو او د زهرو پیاله یې راوغوښته:

((ما دا اورېدلي چې نارینه باید په خاموشۍ ومري. ما چې د زهرو پیاله وڅښله؛ نو تاسو ځانونه قابو کړئ او له صبر څخه کار واخلئ. ما، مېرمنې همدې لپاره نه بهر ولېږلې چې د هغوی پوهول گران وو.))

ملگرو یې دا صحنه نه شوه زغملی. هغوی ټول بلې کوټې ته لاړل.

یو سړی د زهرو له پیالې سره راغی. سقراط په ډېرې زړورتیا پیاله په لاس کې ونیوله. لاسونه یې هېڅ نه لړزېدل.

کرایټو زړه وکړ او بیا کوټې ته راغی. ښایي سقراط کومه وینا ولري. هغه باید دلته واوسي.

((خــدای دې لــه دې نــړۍ څخــه زمــا ســفر، د نېکمرغۍ سفر وګرځوي. زه همدا دعا کوم.)) هغه دعا وکړه او د زهرو پیاله یې له شونډو سره ولګوله.

د حکم له مخې څو شېبې ځای په ځای ناست و او بیا یې برستنه واغوسته او څملاست. څو شېبې وروسته یــې لــه برســتنې څخــه سرراووېســت او د دې نــړۍ لــومړي ملګري ته یې وروستۍ خبره وکړه:

((کرایټــو! پــر مــوږ واجــب دي چــې د شــفا د رب النـوع پـه نـوم يـوه چرګـه قربـاني کـړو. تـه بـه زمـا لـه اړخـه دا قرباني ورکړې...؟ ګوره چې درڅخه هېر نه شي، ښه...!))

د کرایټو پر مخ د اوښکو باران روان و او سلګۍ یې وهلې.

سقراط برستنه بیا پر سر راکش کړه او د تل لپاره آرام شو.

قبر ته خود په پټه خوله ځمه چې

له ډک محفله یې شړلی یمه

پای

مهترلام ښار

د چنګاښ درېیمه، ۱۳۹۲ لمریز